# حسن البنا
# او
# سيد قطب

## د معاصرې اسلامي ويښتابه سرلاري

ليکوال: زاهد جلالي

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: حسن البنا او سید قطب، د معاصرې اسلامي ويښتابه سرلاري

لیکوال: زاهد جلالي

برېښنالیک: Zahid.jalaly@gmail.com

کمپوزر: خالد خپرندویه ټولنه

خپرونکی: خالد خپرندویه ټولنه

پر لیک چارې : تل افغان ټکی کام وېب پاڼه

چاپ وار: لومړی

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۲۰۱۱ ز

د چاپ حقوق د مؤلف په حق خوندي دي

**©All rights reserved. No part of this publication maybe reproduced, stored in retrival system, or transmitted, in any form or by any means, without the prior permission in writing of the writer.**

## ډالۍ

- شهید استاذ غلام محمد نیازي ته چې افغانستان ته یې د نړیوال اسلامي حرکت مبارک فکر راوړی او د اسلامي نهضت بنسټ یې ایښی.
- مرحوم نیکه شهید استاذ تاج محمد ته چې په افغانستان کې د اسلامي نهضت له قربانیو څخه دی.
- او مرحوم کاکا استاذ میر حمزه ته چې د افغانستان د اسلامي نهضت له مخکښانو و.

# د خپرندویې ټولنې یادښت

خالد خپرندویه ټولنه ویاړي چې خپل لومړی کتاب یې د اسلام په دوو هغو شهیدانو پیل کړ چې خپل ځان او ژوند یې د اسلامي فکر د لوړتیا لپاره قربان کړ.

مونږ په دې اند یو چې زمونږ په ټولنه کې تر اوسه لا چا دغه دوه شخصیتونه نه دي پېژندلي، په ځانګړي ډول شهید سید قطب. متاسفانه لاهم په کلاسیکو دیني درسي سیستمونو کې چې چا زده کړې کړي او حتی د ټولنې هغه برخه چې له نړۍ سره آشنایي لري، د انسان ظاهري شکل ته ډېره توجه کوي او د هغوی سربښندنې او فکر هیروي.

دا چې مونږ د ښاغلي زاهد جلالي پخوانی کتاب (د اسلامي فکر اتلان) ولید او هلته مو د شهید استاذ حسن البنا په اړه هر اړخیزه لیکنه ولیده، ورڅخه مو غوښتنه وکړه چې د شهید حسن البنا او شهید سید قطب په اړه معلومات راټول کړي څو د یو کتاب په بڼه یې چاپ کړو چې د ټولنې ټول غړي، عموما باحثین او خصوصا ځوانان له دې کتاب نه ګټه واخلي څو خپل دا دوه لوی شخصیتونه وپېژني.

خوښ یو چې په لږه موده کې لیکوال راته معلومات برابر کړل او دا دی مونږ هم چاپ او لوستونکو ته تقدیم کړل. هیله من یو چې ترېنه هر اړخیزه استفاده وشي.

له قدرمن استاذ محمد زمان مزمل نه ډېره مننه کوم چې (حسن البنا او سید قطب...) کتاب مې ورته د خپل نیکه په لاس (چې مونږ ورته آغا بابا وایو او په رښتیا یې مونږ ته د پلار خلا د ژوند په هر اړخ کې ډکه کړې) ورکړ.

استاذ پر کتاب په ډېر اخلاص څو کرښې ولیکلې او همدارنګه د زړه لیکنه یې ماهم د زړه په سترګو ولوستله، چې متاسفانه څه ترخه یادونه یې ماته هم را په زړه کړل.

په درنښت

فضل الرحمن خالد

# لړلیک


۱.نبه انتخاب او غوره مشران(د استاذ مزمل تقریظ) ........ ۹
۲.مقدمه ........ ۱۴
۳. ولې حسن البنا او سید قطب؟ ........ ۱۴
۴. معاصره اسلامي ویښتابه تر حسن البنا او سید قطبه ........ ۲۱
۵. شهید امام حسن البنا ........ ۲۷
۶. ژوند او زده کړې ........ ۴۱
۷. کورنۍ او کورنی ژوند ........ ۴۹
۸. د اخوان المسلمین تاسیس ........ ۵۳
۹.حسن البنا..حیرانوونکی شخصیت ........ ۶۱
۱۰. د اخوان المسلمین اسلام ........ ۶۵
۱۱. حسن البنا او د دعوت ملګري ........ ۶۸
۱۲. د امام حسن البنا لیکنې ........ ۷۳
۱۳. د امام حسن البنا په اړه کتابونه او مستند فلمونه ........ ۷۴
۱۴. د اخوان المسلمین منحلېدل ........ ۷۵
۱۵. د امام حسن البنا شهادت(ستر سیاسي جنایت) ........ ۷۷
۱۶. شهید استاذ سید قطب ........ ۸۵
۱۷. زوکړه او نسب ........ ۸۷
۱۸. کورنۍ او کورنی ژوند ........ ۸۸
۱۹. ماشومتوب او زده کړې ........ ۹۲
۲۰. لیکوالي او ادب ........ ۹۶
۲۱. ادبي لیکنې ........ ۹۸
۲۲. اسلامي لیکنې ........ ۹۹
۲۳. له مشهورو کتابونو او مجلو څخه یې مقالې د کتاب په شکل ........ ۱۰۰
۲۴. له في ظلال نه اخیستل شوي کتابونه ........ ۱۰۰
۲۵. مقالي ........ ۱۰۱
۲۶. د سید قطب همت ........ ۱۰۲
۲۷. امریکې ته سفر ........ ۱۰۴

۲۸. اخواني سيد قطب ........................................................................ ۱۱۱
۲۹. نوي اخواني تنظيم کې د سيد قطب رهبري ............................................. ۱۱۲
۳۰. زندان او شهادت ............................................................................ ۱۱۶
۳۱. له شهادته وروسته .......................................................................... ۱۲۷
۳۲. ماخذونه ....................................................................................... ۱۳۱
۳۳. د مؤلف پېژندنه ............................................................................. ۱۳۶

(د قدرمن استاد محمد زمان مزمل تقريظ)

# ښه انتخاب او غوره مشران

څه موده مخکې مې د اصلاح ملي په مجله کې يوه مقاله ولوستله، چې زاهد جلالي ليکلې وه.

خوښه مې شوه، پدې خاطر چې د نهضت په اړه وه او ښه يې ليکلې وه.

د قانت صاحب نه مې په ټيليفون پوښتنه وکړه، چې زاهد جلالي څوک دی، څو ساعته وروسته يې وويل، د خدای بښلي جلال زوی دی او د اسلام آباد په اسلامي پوهنتون کې محصل دی.

د واره مې د سترګو اوښکې تويې شوې.

پر خپلو هغو جفاو مې اوښکې تويې کړې، چې زمونږ د مجاهدينو لپاره اوس يو تهذيب جوړ شوی چې ملګری د اولې فاتحې پورې پالو، بيا يې دغسې هېروو، لکه جلال خدای بښلی او د هغه مولی ته پاتې يتيمان.

جلال خدای بښلی ما سره هومره ملګری او هومره مينه درلوده، چې ماته به يې د مکې په مکوي سفرونو کې د کړې مېلمستيا په منځ او د انډيوالانو د خندا او په جوش کې همېشه تکراروله:

که ته د حزب امير وای، نو زه حتماً حزب ته درتللم، ما هم په ټوکه-ټوکه کې ورته ويلې، چې جلاله ولې مې په خلکو وژنې.

آخر ميرحمزه خدای بښلی او جلال خدای بښلی زما د عمر د ډېرو خوږو ورځو د تحصيل او په مکه مکرمه کې د مسجد الحرام د جوار د شپو

ملګري وو. ولې پدې پاتې لویه فاصله کې ما یو ځل ونشوای کولای، چې د هغه د یتیمانو احوال واخلم، تر دې چې هغوی د هغه مهربان خدای د لطف په چتر کې له ما او ډېرو نورو بې نیازه دېته ورسېدل چې زه ناڅاپه د هغوی لیکلې مقاله لولم.

ما په خپلو اوښکو کې دا انګېرله چې که چېرې زما پدې جفاو باندې خدای ښلی جلال راژوندی شي او خبر شي زه به هغه ته څنګه سترګې پورته کړم، ولې هغه مهال او نن چې زه د زاهد جلالي په لیکلې رساله باندې نظر اچوم او زما د ژوند د دوو ډېرو عزیزو او اولګو مشرانو (حسن البنا او سید قطب) د ژوند په هکله په پښتو لیکلې د همدې ژړا د تاثیر په پیمانه د خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېږم.

زاهد جلالي دیوې داسې عزیزې کورنۍ پورې مربوط دی، چې پلار او تره یې زمونږ د درسونو شریک وو، استاد مو شریک وه او د واحد نهضت په پړاو کې سره ملګري وو. او هغوی پکې له نورو نه مخکې او مخلص وو.

د اختلاف په ټول اوږد پړاو کې، چې هغوی له استاد نه تېر نه شول او موږ له حکمتیار نه؛ بیا هم داسې ورځ پکې رانه غله، چې پدې جدي پړاو کې په خپلو کې په بحثونو سره خفه شو، بلکې هاغسې مو پکې د اختلاف باوجود ملګرتوب و، لکه هېڅ چې پکې موږ تقسیم شوي نه وو.

رساله مې په څو ملحوظاتو خوښه شوه:
یو خو دا چې رساله د هغو سرغنه رهبرانو په هکله لیکل شوې، چې زموږ باورونه پرې لا په ځای پاتې دي. د حسن البنا شهید او سید قطب شهید ژوند او مبارزه هغه حقایق دي چې زمونږ په سیمه کې او په ټوله نړۍ کې هغه د هر بیګانه فکر او هر بیګانه ډلې مخه نیسي، او که د

دغه فکر پلویان نه وای نو په ډېرو هېوادونو کې به ۱۸کلنو انسانانو ته ډېری حکمرانانو د لمانځه اجازه هم نه وه ورکړې.

که د هغوی لیکنې، هلې ځلې او په ایمان پوره دریځونه نه وه نو نن به ډېر له هغوی نه چې زمونږ په هېواد کې الله اکبر نارو ته ساه او ژوند ورکړ، هغوی د هورا او بنداري کاروان سره ملګري شوي وو، پدې خاطر مې هم رساله خوښه شوه، چې په یو داسې ژبې لیکل شوې ده، چې په همدې لحاظ او هر لحاظ ویونکی یې چې له ډېرو سمو معلوماتو نه بې برخې دی، معلومات وررسوي.

پدې لحاظ مې هم خوښه شوه چې راټول شوي معلومات پکې د ښو او کره مراجعو په حواله او په ډېره خوږه او آسانه ژبه راټول شوي دي او په پای کې پدې خاطر هم ډېر خوشحاله شوم چې د خدای ښېنلو میرحمزه صاحب او محمد جلال صاحب په کور کې مې د اسلامي نهضت د مخکښو د ژوند سره د هغوی د نازدانه وو د ژوند تړاو ولید او ډاډه شوم چې زمونږ د خدای ښېنلو ملګرو کور او ځای خالي پاتې نشو.

پداسې حال کې چې لا مې زاهد جلالي او د هغه ګران ورونه نه دي لیدلي، هغوی ته د دې زیات برې غواړم او هیله مند یم چې د تحصیل او زده کړې پړاوونه ښه او ژور بشپړ کړي، چې که سبا د دې هېواد د ځپلي ملت د ژغورلو پاتې عملیه کې ورګډ شي چې د نورو په شان یې د آزادولو په ځای ګډوډ نه کړي او د آزادۍ خبره واقعاً په آزاد او افغانستان پاکه او سپینه ودروي.

د لابري په هیله
محمد زمان مزمل

# مقدمه

أحب الصالحين ولست منهم لعلي أرتجي منهم شفاعة
وأكره من تجارته المعاصي ولو كنا سواءً في البضاعة

## ولې حسن البنا او سید قطب؟

ښايي له لوستونکو سره دا سوال راپيدا شي چې د اسلامي تاريخ له ځلانده پاڼو څخه او بيا په ځانګړې ډول د معاصرې اسلامي ويښتابه له لويو مفکرينو څخه دا دوه (حسن البنا او سيد قطب) په اړه ولې دا کتاب ليکل شوي، ولې نورو لويو مفکرينو ته پکې ځای ندی ورکړل شوی. سره لدې چې شهيد سيد قطب په اسلامي حرکت کې د شهيد حسن البنا ځای ناستی هم ندی.

د دې سوال په ځواب کې بايد ووايم، حسن البنا هغه څوک و چې د اخوان المسلمين لوی اسلامي حرکت يې مسلمانانو ته ډالۍ کړ هغه فکر چې، د اسلامي نړۍ لوي فيلسوف او مفکر سيد جمال الدين افغان د فکر امتداد بلل کېده. دا په مسلمانانو باندې د ده لويه پېرزوينه وه او سيد قطب په همدغه لاره او همدغه حرکت کې هغه مجدد دی چې نړيوال اسلامي حرکت يې له انحرافه ساتلی او نوې ساه يې پکې وراچولې.

پدې بايد هريو باور ولرو چې که معاصره اسلامي ويښتابه کې داسې کسان هم شته چې که له حسن البنا او سيد قطب نه په سرښندنه کې زيات نه وي، کم هم ندي، خو دا چې دغه کوچني کتاب د حسن البنا او سيد قطب د ژوند او سرښندنو په اړه ليکل شوی بل علت يې دا هم دی چې نن سبا ځينې حسن البنا او سيد قطب د دوو مختلفو فکري مدرسو مشران بولي او وايي چې شهيد سيد قطب له زندان او تعذيب نه متاثر

شو او نوي افراطي افکار يې وړاندې کړل چې له هغو څخه د جاهلي الفاظو داسې استعمال، چې اسلامي ټولنې پکې له اسلامه وباسي او تکفير کوي يې.

د مرحوم استاذ علي جريشه خبره دوی د سيد قطب د افکارو د درک قوه نه لري، مشکل په سيد قطب کې ندی مګر دوی نه شي کولی هغه اوچت افکار درک کړي، ځکه دوی حسن البنا او سيد قطب د ځانته ځانته افکارو لرونکی بولي په داسې حال کې چې دوی دواړه د يوه فکر او د يوې فکري مدرسې دوه مجددين وو.

هغه څوک چې شهيد سيد قطب له اخوان المسلمين څخه وتلی او يا د ځانګړي فکر او ځانګړې لارې څښتن بولي، بايد هېره نه کړي چې شهيد سيد قطب د امام حسن البنا افکار خوښ کړي و، ځکه د اخوان المسلمين په اسلامي حرکت کې يو عادي غړی شو او د همدې تائيد او موافقت په لړ کې شهيد سيد قطب د اخوان المسلمين د حرکت يو له رهبرانو څخه شو چې بالاخره په همدې لاره کې شهيد شو.

کله چې شهيد سيد قطب اخوان المسلمين ته په اخلاص دننه شو او دا خوځښت يې له بحران څخه د وېستو په لاره کې ښه حل وباله، بيا تر مرګه له دغه خوځښت نه جدا نه شو، حتی تر دې چې شهيد سيد قطب د انقلاب له سرسختو ملاتړو څخه و خو کله چې د اخوان المسلمين او د انقلاب د قيادت ترمنځ اختلافات راپورته شول، شهيد سيد قطب د اخوان پلوی وکړ او د ا خوان المسلمين د سري مجلې (الاخوان في المعرکه) مسؤول مدير شو[1]، چې بالاخره په همدغه لاره کې دی هم شهيد شو خو تر پايه له دغه حرکت څخه ونه ووت.

لکه څرنګه چې امام رشيد رضا د علامه سيد جمال الدين افغاني افکار په داسې حال کې خپرول چې د علامه افغاني په ليدو هم نه

[1] شخصيات لها تاريخ، ليکوال: دوکتور محمد عماره.

وبريالی شوی، همدا ډول سید قطب هم له اخوان المسلمین سره د حسن البنا له وفاته وروسته یوځای شو، او د حسن البنا د فکر نشرولو ته یې ملا وتړله. همدا وه چې په سلګونو مقالې، په لسګونو کتابونه او مشهور تفسیر یې د اسلامي ویښتابه په لاره کې ولیکه.

په هغه عصر کې چې مسلمانان له خپل دین څخه لرې شوي وو، په داسې حالاتو کې شهید سید قطب د مسلمانانو د ویښولو هڅې کولې. ډېری پوهان او د اسلامي حرکت مخکښان پدې باور دي چې سید قطب په خپلو تیزو لیکنو غوښتل خلک له خوبه ویښ کړي او په اسلامي مفاهیمو یې وپوهوي، چې د دې ښه بېلګه معالم في الطریق کتاب او في ظلال القرآن تفسیر دي، ځکه د اسلامي ویښتابه سرلاری بلل کېږي.

په اسلامي ویښتابه کې د سید لیکنو ډېره اغېزه وکړه او تر اوسه ترېنه متاثره ده. د سید فعالیتونه له رشید رضا څخه کم نه وو، دواړو د اسلامي ویښتابه په لاره کې د وسطي افکارو خپرول خپله دنده ګرځولې وه. دا که څوک وایي چې سید قطب د وسطي فکر څښتن ندی، باید دا هېره نه کړي چې هغه د اخوان المسلمین له رهبرانو څخه و او د حسن البنا اسلامي حرکت خو پرته له شکه د وسطیت ښه بېلګه ده.

د دغو لویو شخصیتونو په اړه په لیکنه کې مې ډېر احتیاط او تر ټولو لیکنو ډېره څېړنه کړې. هر ممکن کتاب، برېښناپاڼه او وېډیو مې کتلې څو د دغو شخصیتونو په اړه هر اړخیزه لیکنه وکړم. هیله من یم دا دوه لوي مفکرین او د دوی فکر مې لوستونکو ته ور رسولی وي.

دا چې د کتاب عنوان (حسن البنا او سید قطب د معاصری اسلامي ویښتابه سرلاري) دی، د حسن البنا او سید قطب، اسلامي ویښتابه کې رول او هلته ننوتلو په اړه لیکل شوی.

لومړي فصل کې د معاصرې اسلامي ويښتابه لنډ تاريخ او دغه صف کې د حسن البنا او سيد قطب داخلېدو ته ځانګړې شوی.
دوهم فصل کې د حسن البنا ژوند، د اخوان المسلمين بنسټ ايښودنه او شهادت ليکل شوی.
دريیم فصل کې د شهيد سيد قطب د ژوند، اسلامي حرکت ته داخلېدو او بيا په محاکمې او شهادت پای ته رسېدلی دی.
د کتاب په آخري برخه کې د مؤلف لنډ ژوندليک ته هم ځای ورکړل شوی دی.
پاتې دې نه وي، چې محترم استاذ محمد زمان مزمل سره د دې چې ډېر مصروفيتونه يې هم لرل، خو بيا يې هم په دغه کتابګوټي د تقريظ ليکلو زحمت وويست، ورڅخه ډېره مننه کوم او له رب العالمين څخه ورته د اجر غوښتونکی يم.

بايد لوستونکي ته ډاډ ورکړم، چې د دغو دوه شخصيتونو په اړه ليکنو کې مې ډېره هڅه کړې منځپانګه يې دقيقه او په کره معلوماتو سمباله کړم، خو بيا هم انسان نه سهوه ممکنه ده که څوک د کتاب په منځپانګه کې څه سهوه ويني هيله ده له ما سره يې شريکه کړي.

زاهد جلالي

نړيوال اسلامي پوهنتون، اسلام اباد

۲۰۱۱-۱۰-۰۲

# لومړی څپرکی
# معاصره اسلامي ويښتابه ،
# ترحسن البنا او سيد قطبه


افغان سيد جمال الدين

اسلامي ويښتابه چې په عربي کې ورته الصحوه الاسلاميه وايي، په هغه حالت کې چې د اسلام سم مفهوم نه وي پاتې، د اسلام اصيل فهم رامنځته کول، قرآن او صحيحو احاديثو ته رجوع کولو ته اسلامي ويښتابه وايي.[2]

همدا ده چې سيد ابو الحسن الندوي د امام حسن البنا د خاطراتو کتاب (مذکرات الدعوه و الداعيه) په مقدمه کې وايي چې حسن البنا په داسې وخت کې مصر کې اصلاح ته خلک بلل چې امر بالمعروف په ټپه ولاړ و او خلک د فساد په لور تلل.

سيد جمال الدين افغاني د معاصرې اسلامي ويښتابه پلار بلل کېږي. کله چې انګرېزانو مصر اشغال کړ، په مصر کې د سيد جمال الدين افغاني شتون استعمار په ډار کې وغورځاوه، ځکه چې سيد جمال الدين په ډېر صراحت سره هغوی رټل، همدا وه چې هغوی سيد جمال الدين ته کومه پلمه جوړه کړه او دی يې زنداني کړ او په کال ۱۸۷۹ز کې يې له مصر نه يې هند ته ولېږه.

[2] تاريخ الصحوه الاسلاميه. (مقاله)

په هند کې هم سید جمال الدین افغاني سیاسي بندي و. هلته له څه مودې تېرولو وروسته یې اجازه ورکړه چې هر هېواد ته چې غواړي تلای شي.



العروة الوثقى

لا انفصام لها

● مدير السياسة:
جمال الدين الأفغاني
● ترسل الجريدة إلى جميع الجهات الشرقية.
● قد عينت أجرة البريد خمسة فرنكات في السنة لمن تسمح بها نفسه.

● المحرر الأول:
الشيخ محمد عبده
● من شاء أن يبعث إلينا بتحارير أو رسائل في أي موضوع كان رغبة نشره في الجريدة أو التنبيه على أمر مهم فليرسلها إلى إدارة الجريدة بهذا العنوان:
6. Rue Martel à Paris

سید جمال الدین افغاني هم په ۱۸۸۳ز کال کې یوروپ انتخاب کړ او لندن ته ولاړ، لندن کې له لږې مودې تېرولو وروسته سید جمال الدین ته د فرانسې پلازمینه پاریس د فعالیت مناسب ځای وربرېښېده، ځکه هغه وخت کې پاریس له لندن سره رقابت لره او د انګلستان دومره پرمختګ یې نه خوښاوه، همدا وه چې سید جمال الدین پاریس ته ولاړ. په دغه وخت کې یې مشهور شاګرد امام محمد عبده بیروت ته تبعید شوی و. افغاني، محمد عبده پاریس ته وروغوښت او هلته یې د عروه الوثقی مجله تاسیس کړه او د اسلامي نړۍ د آزادۍ لپاره یې هلې ځلې پیل کړې.

عروه الوثقی مجله د سید جمال الدین افغاني د افکارو تعبیروونکې مجله وه. په یادې مجله کې سید جمال الدین افغاني خپل افکار د خپل شاګرد په قلم خلکو ته وړاندې کول. هغه غوښتل اسلامي نړۍ له خوبه راپاڅوي، جهاد او د استعمار په وړاندې خلک د جګړې لپاره راوبښ کړي، چې عموما نوموړې مجله د معاصرې اسلامي ويښتابه اساس بلل کېږي. د سید جمال الدین افغاني دغو هڅو استعمار په وېره کې واچاوه. هغوی دا مجله غیر قانوني اعلان کړه او په مصر کې چې به د چا په کور کې عروه الوثقی مجله وموندل شوه پینځه ویشت جنیهه به جریمه کېده. د همدې مخنیوي په نتیجه کې عروه الوثقی له اتلسمې ګڼې وروسته خپرونه ودروله.

د عروه الوثقی په مصادره کېدو د سید جمال الدین افغاني او د هغه شاګرد امام محمد عبده فعالیتونه او د اسلامي ویښتابه هڅې پای ته ونه رسېدې.

امام محمد عبده له جمال الدین افغاني سره مخکې تر دې چې جمال الدین له مصر څخه وشړل شي، پېژندلي و. کله چې په ۱۸۷۷ز کال کې محمد عبده له ازهر څخه فارغ شو، ده خپله تدریس پیل کړ. محمد عبده به خپلو شاګردانو ته د ابن الخلدون مقدمه تشریح کوله او ترڅنګ يې له سید جمال الدین افغان سره سیاسي فعالیتونه او په ورځپاڼو کې لیکنې کولې، خو کله چې سید جمال الدین له مصر څخه وېستل شو، محمد عبده هم له استاذۍ څخه عزل شو او په خپل کور یې کېناوه.


امام محمد عبده

کله چې مصر د انګرېز له خوا اشغال شو، محمد عبده په ۱۸۸۲ز کې زندان ته وغورځول شو او له درې کاله زندان تېرولو وروسته یې د لبنان پلازمېنې بیروت ته تبعید کړ، چې بیا په پاریس کې له سید جمال الدین سره یوځاي شو او عروه الوثقی یې تاسیس کړه.

کله چې مجلې خپلې خپرونې بندې کړې، محمد عبده په رسمي مؤسساتو کې فعالیت ته ترجیح ورکړه. محمد عبده د مجلې له متوقف کېدو وروسته بیروت ته ولاړ او هلته یې په سلطاني مدرسه کې استاذي شروع کړه، په عمري جومات کې یې د قرآن تفسیر کاوه او د دې ترڅنګ یې خبرنې او لیکنې هم کولې، دا مرحله د هغه په ژوند کې د اجتهاد او تجدید مرحله یادېږي. په ۱۸۸۹ز کال کې محمد عبده مصر ته په راتلو بریالی شو او په مصر کې په مختلفو مناصبو کې په

دنده بوخت شو، له هغو څخه په قضا کې دنده، خیریه ټولنو په تاسیس کې مساهمت او وروسته د مصر مفتي عام شو، محمد عبده په دغه موده کې نورو ته د خپل ویښوونکي فکر په رسولو بریالی شو.

محمد عبده د جمال الدین د ویښتابه افکار له ځانه خپل شاګرد محمد رشید رضا ته پرېښودل، که څه هم رشید رضا ډېره هڅه وکړه چې له جمال الدین افغاني سره وګوري خو دا چې علامه افغاني نه شو کولی په یوه ځای کې ډېر پاتې شي د هغه دا هیله سرته ونه رسېده، تر هغې چې په ۱۸۹۷ز کال کې علامه سید جمال الدین افغاني وفات شو.

رشید رضا له فرانسې څخه خپرېدونکې (عروه الوثقی) نه شدیدا متاثر شوی و، د دغې مجلې په تعقیب سره یې فکر کې تغیر رامنځته شوی و او همدا وه چې د دغه فکر ترجمان شو.


رشید رضا

رشید رضا وایي چې له عروه الوثقی نه ډېر متاثر شوی وم، ما له عروه الوثقی نه زده کړه چې اسلام یواځې اخروي دین ندی، مګر اخروي او دنیوي دین دی.

رشید رضا په ۱۸۹۷ز کال کې له محمد عبده سره وکتل او ورسره یې وعده وکړه چې د ده شاګردي به کوي او د ده د فکر ترجمان به جوړېږي، همدا وه چې د المنار مشهوره مجله یې په ۱۸۹۸ز کال کې تاسیس کړه چې له څلوېښتو نه ډېر کلونه یې د هغه د فکر د خپرولو لپاره خپرونه وکړه. المنار مجله او د دې مجلې خپرونې داسې وې لکه د عروه الوثقی ځای یې چې نیولی وي. علت یې همدا و چې امام رشید رضا د محمد عبده په مشوره او لارښوونه د یادې مجلې محتوی لیکله.

د المنار مجلې یوه څانګه د شیخ محمد عبده تفسیر ته ځانګړې شوې وه او د دې ترڅنګ پکې فتواګانې او سیاسي-اجتماعي مسایل هم ځېرل کېدل. د مجلې له خپرونو پینځه کاله نه وو شوي چې ډېره مشهوره شوه او تقریبا هر عالم به دا مجله او د دې څښتن رشید رضا پېژانده.

د امام محمد عبده له وفات څخه وروسته (۱۹۰۵ز) شیخ محمد رشید رضا د دغه ویښوونکي فکر په راس کې واقع شو او د خپلو دوه لویو استاذانو ځای ناستی شو، تر دې چې په کال ۱۹۳۵ز کې وفات شو او المنار مجله هم د ده له وفات سره خپرونې متوقفې کړې.

لکه څرنګه چې رشید رضا د سید جمال الدین افغاني او محمد عبده له عروه الوثقی مجلې نه متاثر شوی و همدا ډول حسن البنا هم د المنار مجلې له خپرونو نه شدیدا متاثر شوی و او له رشید رضا څخه یې د ده د مجلې له لارې د ده فکر او د اسلامي ویښتابه لارې زده کړې وې.
کله چې د اخوان المسلمین دعوت لس کلن شو، دا چې د المنار مجلې خپرونې ولاړې وې. حسن البنا د رشید رضا له کورنۍ وغوښتل د المنار مجله ده ته پرېږدي، څو دی او د ده اسلامي حرکت یې مخ پر وړاندې بوځي همدا وه چې ۱۹۳۹ز کې اخوان المسلمین یادې خپرونې ته دوام ورکړ. لوی امام او د ازهر شیخ، شیخ مصطفی المراغي د مجلې د بیا فعالېدو په اړه وویلې: ((المنار مجله د اسلام نړیواله مرجع وه...او څښتن یې زړور، مخلص او عالم انسان و، کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ډېر خوښېدل او اوس خبر شوم چې استاذ حسن البنا غواړي یوځل بیا دا مجله فعاله کړي، دغه کار ډېر خوښ کړم، ځکه استاذ حسن البنا په خپل دین غیرتي انسان دی، وخت او حالت درک کوي او په اسلامي نړۍ کې تشې پېژني، په خلکو کې یې اصلاح رامنځته کړې، هیله من یم چې په دغه کار کې موفق وي او د رشید رضا په څېر یې مخ پر وړاندې بوځي))[3].

---

[3] مذکرات الدعوه و الداعیه

د رشید رضا ورثه ځکه امام حسن البنا ته د المنار مجلې د خپرولو اجازه ورکړه چې، هغوی په حسن البنا باور لاره، چې دی کولی شي دا مجله په ښه ډول مخ پر وړاندې بوځي. حسن البنا له ډېر پخوا نه له شیخ سره اړیکه لرله او له هغه سره به یې ډېر کله مشورې کولې.

المنار مجله چې کله د اخوان المسلمین له لورې نشرېده، طبعا حکومت د دې اجازه نه ورکوله، همدا وه چې دا مجله به کله نشره شوه او کله نه، بالاخره په ۱۹۴۰ز کال کې د مجلې وروستۍ ګڼه راووته او نور المنار مجله خپره نه شوه.

جوکسون د سید جمال الدین افغاني او امام محمد عبده په افکارو کې د حسن البنا د موقعیت په اړه وایي: ((حسن البنا دوه وسیلې او دوه لارې سره یوځای کړې. سید جمال الدین افغاني پدې اند و چې سیاسي اصلاح د حکم په واسطه راتلی شي او محمد عبده پدې باور و چې د تربیې له لارې راځي. حسن البنا همدا دوه وسیلې او دوه لارې سره یو ځای کړې))[4].

د اسلامي ویښتابه په لاره کې د حسن البنا وتلی خوځښت (اخوان المسلمین) لویې لاسته راوړنې لري. همدا ده چې شیخ ناصر الدین الالباني د شیخ امام حسن البنا په اړه وایي ((شیخ حسن البنا په ځوانانو ډېر احسان بار کړی، همدا حسن البنا و چې ځوانان یې له هسې ځایونو، قهوه خوریو او سینماګانو د اخوان المسلمین په دعوت راټول کړل))[5].

دا چې سید قطب څرنګه په دغه کتار کې شامل شو، مشهوره کیسه لري چې د سید قطب په اړه لیکنه کې به یې تفصیلي ولولئ.

---

[4] حسن البنا الرجل القرآنی(کمپیوټري بڼه)، لیکوال روبیر جوکسون

[5] من اعلام الدعوه و الحرکه الاسلامیه ۱۰۶۵صحفه

امريکې کې د سيد قطب اقامت د ده په ژوند کې لوی تغيرات راوستل. شهيد سيد قطب وايي چې د فبروري په درېيمه ۱۹۴۹ز کال کې د امريکا په يو روغتون کې پروت وم، ليدل مې چې رنګارنګ موسيقي، غربي ګډاګانې او خوښۍ وې، ما له چانه پوښتنه وکړه چې څه خبره ده کوم اختر لمانځئ؟ راته يې وويل: نن په شرق کې د نصرانيت لوی دښمن وژل شوی دی، نن حسن البنا ووژل شو، دغې حادثې ماته ټکان راکړ چې د حسن البنا د وژل کېدو جشن او خوښي په امريکې کې لمانځل کېږي ! ! حتما هغه يو مخلص داعي و او زه بايد له دغې ډلې سره يو ځای شم.

کله چې سيد قطب د ټولنيز عدالت کتاب وليکه، د هغه ډالۍ اخوان المسلمين ته وه. سيد قطب اخوان المسلمين سره د يوځای کېدو ځرګندونه په دغې ډالۍ وکړه. اخوان المسلمين هم له امريکې څخه د سيد قطب د راګرځېدو پر مهال عباس سيسي د هغه استقبال ته واستاوه، په همدې ډول سيد قطب هم د دغه حرکت له غړو څخه او بيا له مشرانو څخه شو.

استاذ صلاح خالدي د (سيد قطب من الميلاد الی الاستشهاد ) په کتاب کې وايي چې د (المسلمون) مجلې د سيد قطب په لاس ليکل شوی اعتراف هم خپور کړی چې له اعدامېدو نه يو کال مخکې په ۱۹۶۵ز کال کې يې په زندان کې ليکلی و. سيد قطب په دغه ليک کې له اخوان المسلمين سره د خپلو اړيکو تفصيلات ليکلي و. لدې معلومېږي چې شهيد سيد قطب تر آخره اخواني و او د همدغه حرکت اساساتو ته پابند و.

د اخوان المسلمين درېيم مرشد استاذ عمر تلمساني په ۱۹۸۵ز کال کې د شهيد سيد قطب په اړه منصفانه خبره وکړه او له اسلامي حرکت سره يې د هغه تر شهادته پورې يوځايوالی ښکاره کړ.
استاذ تلمساني وايي: مخکې تر دې چې (معالم في الطريق) خپور شي زه په داسې حال کې چې په روغتون کې وم، خبر شوم. استاذ تلمساني

زیاتوي: ((کله چې سید قطب له زندانه آزاد شو، زه په زندان کې وم. ماته یې خبر راواستاوه چې عراقي دولت ورڅخه غوښتي چې ورسره ولاړ شي، څو هلته د تعلیم او تربیې په برخه کې کار وکړي. ما سره یې په منلو او ردولو کې مشوره وکړه. زما نظر دا و چې ولاړ شي، ځکه زه وېرېدم چې د انقلاب کسان له ده سره بیا ظلم ونه کړي. مګر شهید سید قطب ویلې چې مصر کې پاتې کېږم څو له خپل موقف نه دفاع وکړم او دا د خدای غوښتنه وه چې احتیاط ورسره ګټه نه لري)).

له پاسنۍ کیسې دا لاهم واضحه کېږي چې شهید سید قطب د ژوند تر آخر د اخوان په صحیحو افکارو ولاړ و. نه تکفیري و نه یې څوک کافر کړي و. پدې موضوع کې استاذ تلمساني وایي: ((استاذ سید قطب هېڅکله ندي غوښتي چې یو مسلمان کافر کړي، ځکه هغه پدې تر ټولو ښه پوهېده چې که څوک له زړه نه لا اله الا الله ووایي، په اور کې د تل لپاره نه سوځېږي او مونږ پوهېږو څوک چې مسلمان وي هغه تل په اور کې نه سوځېږي.

دا چې شهید سید قطب د جاهلي ټولنې الفاظ ډېر استعمالوي موخه یې دا نه ده چې مسلمانه ټولنه تکفیر کړي، مګر هغه غوښتل د ظالمانو په وړاندې تېز الفاظ استعمال کړي او دا داسې اسلوب دي چې عربي ژبه پرې پوهېږي))[6].
کله چې شهید سید قطب په زندان کې و مخالفینو یې دا اوازه اچولې وه چې دی هغه څوک چې د ده مخالف نظر ولري تکفیروي یې، خو استاذ سید قطب له دغه حقیقته پرده پورته کړه. سید قطب ابو الوفا ته د خپلو افکارو حقیقت ښکاره کړی و. سید قطب ویلي وو چې دی کله هم مسلمانان نه تکفیروي او دا هسې خبرې دي. سید قطب وایي مونږ وایو چې دوی د عقیدې په حقیقت ندي پوه او له اسلامي ژوند نه لرې شوي دي[7]. ابو الوفا د سید خبرې د مکتب الارشاد غړو ته رسولې وې،

---

[6] ذکریات لا مذکرات صفحه ۲۸۰-۲۸۱
[7]سید قطب من المیلاد الی الاستشهاد، صفحه ۳۸۸6

خو هغه چا چې په زندان کې له سيد قطب سره مخالفت کاوه، بيا هم په خپله خبره ولاړ وو. که څه هم تلمساني د مخالفينو مشر(عبدالرحمن البنان) پوهول غوښتي وو، تلمساني ورته ويلي وو چې حقيقت داسې نه دی، څنګه چې تاسو ګومان کړی، خو هغوی په خپله خبره ټينګ ولاړ وو.[8]

سالم علي البهنساوي د سيد قطب د جاهلې ټولنې په اړه وايي: ((استاذ سيد قطب د مجتمع او هغو افرادو ترمنځ چې مجتمع ورڅخه جوړه شوې فرق کوي، داسې چې مجتمع نوې اصطلاح ده او موخه ترېنه دولت ده. دا چې استاذ سيد قطب وايي ځينې مجتمعات فکر کوي مسلمانې دي خو هغوی په اصل کې ندي، لدېنه هم موخه دولتونه او د دولت او فرد اسلام فرق لري))[9].

له دغو او دېته ورته حادثو ښکاره کېږي چې د سيد قطب د (تکفير) خبرې د ده فهم په غلط مفهوم اخيستل دي لکه څرنګه چې شهيد سيد قطب خپله وايي. په ځانګړي ډول عبدالفتاح اسماعيل ته د سيد قطب سپارښتنه چې له انتقام نه د اصلاح په فکر کې شي(چې تفصيل به يې د شهيد سيد قطب په اړه ليکنه کې ولولئ). د دې غټ ثبوت دی چې سيد قطب د اسلامي ويښتابه په فکر کې يو رهبر پاتې شوی او په خپلو ليکنو يې ډېر ځوانان ويښ کړي دي.

---

[8] سيد قطب من الميلاد الى الاستشهاد، صفحه٣٨٨

[9] الحكم و قضيه تكفير المسلم صحفه٢٦٠

# دوهم څپرکی

# شهید امام حسن البنا

د اسلامي نړۍ فلسفي عالم، وتلی مفکر او لوی استاذ دوکتور محمد عماره د

شهید حسن البنا د ویښتابه د سرلارۍ په هکله وایي: ((په ټوله اسلامي نړۍ کې حتی په هغو هېوادونو کې چې مسلمانان پکې اقلیتوندي، که منصف څېړونکی بحث وکړي دې نتیجې ته به ورسېږي چې ترټولو عصرونو، دې عصر کې د اسلامي ویښتابه حقیقت؛ عمیق او ترټولو قوي دی، چې د دې ویاړ پرته له شکه شهید امام حسن البنا ته ور په برخه دی))[10].

دوکتور محمد عماره پدې نظر دی چې له سید جمال الدین افغان نه وروسته دا فکر حسن البنا ته په کړییز شکل ورپاتې دی او ده وکولی شو، دا فکر په ښه ډول نورو ته ورسوي. دوکتور محمد عماره د سید جمال الدین افغاني عروه الوثقی فکري فعالیت سره د شبان المسلمین له تطبیقي فعالیت ته ربط ورکوي او وایي چې دا د هماغه کار او د هماغه فکر عملي شکل دی.

امام شهید حسن البنا د اسلامي ویښتابه ځلانده ستوری و، چې په خپلو ځلاندو هڅو یې ټوله اسلامي نړۍ وځلوله. دا ستر امام او د اخوان المسلمین مؤسس د شلمې پېړۍ لپاره یوه الهي پېرزوینه وه، چې د سید جمال الدین افغاني د ویښتابه افکار یې په ټولنه کې تطبیق کړل. د هغه په ماشومتوب او ځوانۍ کې ستر درسونه پراته دي. دی په

---

[10] شخصیات لها تاریخ، صفحه۲۰۰

ځو کلونو کې د داسې ژمنو او مخلصو ملګرو لرونکی شو ، چې روزنه يې له الهي مرستې پرته ممکنه نه وه.

په هر فکر کې اخلاص تر هرڅه ډېر مهم وي، چې د امام البنا شهيد فکر لدې اړخه هېڅ کمی نه لاره، حتی ترديې، چې هغه او د هغه همفکران داسې روزل شوي وو، چې خپل ځانونه يې لدې فکر نه ځار کړل. نه يوازې اخلاص مګر د هغه اسلامي فکر له هر اړخه پوره و. هغه له يوې لورې په خپل دعوت کې سلفيان، صوفيان، ازهريان، عصريان او د ټولنې هرې طبقې ته ځای ورکړی و. له بلې خوا ، د هغه حرکت يوازې دعوتي حرکت نه و ، هلته ملتپالنې او له وطن سره مينې هم ځای لاره، هغه له دعوت سره سره خپل تحريک ته د جهاد او استشهاد روح هم وربښلی و.

د امام شهيد حسن البنا په اړه د هغه نږدې کسان او د دوستان وايي، چې ډېره ښه حافظه يې وه، هرڅه يې ښه زده کول، پرځان يې له حده ډېر عتماد لاره(چې دا د بريا يو مهم شرط دی). عجيب ايمان يې درلود ، همېشه يې هڅه کوله، چې له خپلو ملګرو سره ټينګه اړيکه ولري، اقتصادي حالت يې ښه نه و ، خو سخي و. په ورځ کې څلور ساعته ويده کېده. هر هغه څه، چې يې مخې ته کېښودل خوړل يې. خپلې خبرې او ځان ساتلو ته يې ډېره پاملرنه کوله. په ساده الفاظو کې يې يوه موضوع تشريح کوله او د هغه د بيان جادوګرې طريقې پر هر چا اغېزه کوله. په اخلاقو کې قدوه و. د حق په ويلو کې ډېر زړه ور و. ساده کاليو کې چې حتی پيوندونه هم پکې و ګرځېده خو هرکله به يې جامې پاکې وې. هغه اسلام په خپلو اخلاقو او عمل کې ښکاره کاوه، همدا لامل و ، چې په ډېره لنډه موده کې يې ډېر مخلص کسان ځان ته راجلب کړل او د مليونو کسانو لاربنود شو.
هغه شهيد به هره سې شنبه خپلو همفکرانو ته په منظم ډول وينا کوله او په خپل فکر به يې ښه پوهول. د همدغو درسونو په سلسله کې ډېر کسان له اخوان المسلمين سره داسې يوځای شول چې د امام حسن البنا

درس او اخلاص به یې ولیده، نو پرته له ځنډه به ورسره شول. همدارنګه داسې نور صفات، چې د یو مشر لپاره یې لرل ضرور دي په امام حسن لبنا کې وو.

د استاذ حسن البنا نږدې ملګری استاذ عبدالبدیع صقر چې تقریبا دولس کاله له حسن البنا سره یو ځاي پاتې شوي و او دعوتي ملګری یې و، وایي: ((څوک چې له حسن البنا سره نږدې پاتې شوي یا یې اړیکه ورسره وه، هېڅکله نه شي ویلی چې حسن البنا په ټول ژوند کې دروغ ویلي یا یې عهد مات کړی او یا یې هم خیانت کړی وي ))[11] دی وایي چې حسن البنا ډېر صادق او غیرتي و، کله چې مو د اخوان المسلمین د عمومي مرکز لپاره ځاي واخیست، ټول قرضونه حسن البنا پر ځان ولیکل.

## ژوند او زده کړې:

حسن البناء په **۱۹۰۶**ز کال کې، چې له **۱۳۲۴**هجري کال سره سمون خوري د شعبان په میاشت کې د مصر د البحیره په ولایت د محمودیه په ښار کې په یوې دینداره کورنۍ کې له عالم پلار او زاهدې مور څخه وزېږېد. پلار یې شیخ احمد عبدالرحمن البناء د خپل کلي له مشهورو علماوو څخه و، هغه د حدیثو په اړه ډېر کتابونه لیکلي و، چې مشهور یې الفتح الرباني لترتیب مسند الامام احمد دی.

څرنګه چې د شهید امام حسن لبنا رحمه الله پلار لوی دیني عالم و، د ده د علم تاثیرات په امام حسن البناء کې هم جوت وو. د هغه ماشومتوب هم علمي ماشومتوب و. هغه په داسې حال کې، چې ماشوم و، ډېر قرآني ایتونه یې له تفسیر سره زده کړي وو او ډېر احادیث یې حفظ کړي وو.

[11] من اعلام الدعوه و الحرکه الاسلامیه، صفحه ۳۸۳

امام حسن البنا د مکتب په وخت کې يې د غربي کاليو پرځای خپل مروج کالي اغوستل، چې د دې لپاره څو څو واري د مکتب د مدير او نورو استاذانو او ملګرو له لوري پرې ټوکې او استهزاء هم شوې. خو هغه کله هم د داسې بې ځايه خنداګانو تر تاثير لاندې نه و راغلی او په خپلو ملي کاليو نه شرمېده. د يو ماشوم لپاره دومره احساس او فکر لرل د تعجب ځای دی او بيا په تېره د مصر په څېر ټولنه کې، چې استعمار پکې داسې مسايلو ته ډېر کار کړي و او دا هرڅه دوی ته عادي ښکارېدل، نو هرچا به پدې ړانده تقليد کې له يوه او بل سره سيالي کوله.

امام حسن البنا وايي: ((ما به د ماسپښين او مازيګر د لمانځه لپاره په مکتب کې اذان کاوه، کله، چې به د اذان پرمهال درسي ساعت و، ځينو استاذانو راته د آذان اجازه راکوله، خو ځينو به بيا ويلې، چې د اصولو مطابق کار به کوې. اوس د درس وخت دی درس وايه. ما به له داسې استاذ سره بحث کاوه او ورته مې ويلې، چې (لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق) تر هغې مو سره بحث کاوه، چې قناعت ته به ورسېدو. دا هرڅه مو په ادب سره کول، په داسې لهجه نه، چې استاذان رانه ناراض شي))[12].

شهيد حسن البنا د خپلو خاطراتو په کتاب (مذکرات الدعوة و الداعية) کې ليکي: ((يوځل زه د نيل ترخنګ تېرېدم، هغه مهال زه د مکتب زده کوونکی وم، ګورم، چې د يوې کښتۍ څښتن د خپلې کښتۍ په مخه کې يو لوڅ او غير اخلاقي بوت لګولی دی. دا يو داسې ځای و، چې دلته به ښځې او نجونې هم تېرېدې او اوبه به يې څښلې. زه د کښتۍ څښتن ته ورغلم او ورته مې وويلې، چې دا بوت دې له خپلې کښتۍ لرې کړه. هغه ونه منله، زه هم د دې ځای ضابط ته ورغلم او ورته مې کيسه وکړه، دی هم راسره روان شو او د کښتۍ څښتن ته يې څه سپکې سپورې هم وويلې او هغه بوت يې پرې لرې کړ. ضابط پدې

---

[12] مذکرات الدعوه و الداعيه، کمپيوټري بڼه کې

اکتفا ونه کړه، لدې ورسته زموږ مکتب ته لاړ او د طابور مسؤول ته يې دا خبره وکړه، چې د طابور مسؤول دا خبره سبا ورځ د ټولو زده کوونکو په وړاندې وکړه او زما دا کار يې وستايه ))[13].

حسن البنا شهيد د ماشومتوب او ځوانۍ پرمهال ډېر متقي انسان و. دی خپله وايي، چې موږ صوفيت ته مايل و. (دا خو واضحه ده، چې په صوفيت کې زهد يو مهم اصل دی). سره لدې، چې امام حسن البنا يو متقي انسان و، خپلو درسونو کې هم ډېر مخکې و، هغه به هرکله اول نمبر راته. هرڅه به يې ښه زده کول. هغه به ويلې، چې مسلمان بايد په پوهه کې ډېر مخکې وي. د هغه زهد هغه له نورو ژوندنيو چارو نه منع کاوه، هغه به په ملي چارو کې هم برخه اخيسته، مثلاً، د ۱۹۱۹ز کال په انقلاب کې امام البنا برخه واخيسته په داسې حال کې، چې عمر يې له ديارلسو کالو ډېر نه و.

په ماشومتوب کې امام حسن البنا د وطنپالنې په اړه وايي: سره لدې، چې زه په تصوف او عبادت کې بوخت وم، ما دا فکر کاوه، چې وطن ته خدمت يو داسې فرض دی، چې خلاصون ترې نشته. په هغه ورځ، چې محمد فريد مړ شوی و، ښه مې په ياد دي، چې استاذ ټولګي ته راغی او د هغه د وطنپالنې او پدې لاره کې يې د هغه د جهاد کيسې وکړې، زموږ ټول ټولګيوال په ژړا شول. ما په هغه وخت کې د فريد په اړه يو شعر هم وليکه، چې يوه څنډه يې داسې ده:

أَفَرِيدُ نَمْ بِالأَمْنِ وَالإِيمَانِ
أَفَرِيدُ لاَ تَجْزَعْ عَلَى الأَوْطَانِ

امام شهيد حسن البنا له څوارلس کلنۍ مخکې قران کريم حفظ کړ. شهيد امام د مکتب په موده کې د خپلو ټولګيوالو په منځ کې يو درونـد او باشخصيته هلک و. نورو هلکانو ته د ټولګي د مشر په څېر ښکارېده. هغه په وړوکوالي کې هم يو منظم اسلامي کار پيل کړی و. امام حسن البناء خپل ملګري راټول کړي و او يوه وړوکې ټولنه د

[13]مذکرات الدعوه و الداعيه کمپيوټري بڼه کې

جمعیة الاخلاق الادبیة په نامه جوړه کړې وه، چې د خپلو ملګرو له لورې دی د دې جمعیت مشر ټاکل شوی و.

د جمعیة الاخلاق الادبیه یوازې تر مکتب پورې منحصره وه. شهید امام وغوښتل یوه داسې ټولنه جوړه کړي، چې په هغې کې له مکتبه د باندې نور خلک هم برخه واخیستلی شي او د ټولنې د اصلاح لپاره کار وکړي. همدا وه، چې یوه بله ټولنه یې د جمعیة منع المحرمات په نامه جوړه کړه. لکه څرنګه، چې یې له نومه ښکاري، پدې جمعیت کې به دوی د ټولنې د اصلاح لپاره کار کاوه. دوی به په خپل اصلاحي کار کې له هرې وسیلې استفاده کوله. په داسې حال کې، چې دوی ماشومان وو او چا هم دا باور نه کاوه، چې دا کار به دا ماشومان کوي. دوی به د حرام کار د بندولو لپاره خلکو ته لیک ورلېږه او هغوی به یې له حرام کاره د ژغورلو لپاره هڅول. که چا به عبادت په غلطې طریقې سره سرته رساوه هغوی ته به یې ویلې، چې دا یې سمه طریقه ده. دوی به هره خبره د آیتونو او احادیثو په رڼا کې کوله، نو کله، چې به خلکو د دوی دا لیک ولیده، په منلو کې به یې ځنډ نه کاوه، ځکه، چې د هغوی هره خبره مستنده وه.

کله چې امام حسن البنا د مدنهور دار المعلمین کې داخل شو، هلته یې خپل فعالیت لا پراخ کړ او یوه لویه ټولنه یې د جمعیة الحصافیة الخیریة په نامه جوړه کړه، څرنګه چې دوی هم مشران وو او د مکتب په نسبت یې ډېر څه کولی شو، نو پدې جمعیت کې دوی په ډول-ډول طریقو خپلې ټولنې ته خدمت کاوه:

لومړی: د ښو اسلامي اخلاقو خپرول او د منکراتو نه د خلکو منع کول.

دوهم: له هغو تبشیریانو سره، چې په مصر کې یې د ډاکټرانو او استاذانو په جامه کې د مسیحیت د خپراوي لپاره هڅې کولې، مقاومت کول.

کله چې شهید امام دار المعلمین پای ته ورساوه، د مصر پلازمېنې قاهرې ته په ۱۹۲۳ز کال کې د لوړو زده کړو لپاره ولاړ او هلته یې په دار العلوم العلیا کې داخله واخیسته، څرنګه چې امام شهید حسن البنا له ماشومتوبه د اسلامي دعوت لپاره حرکتونه جوړول او اسلام ته یې خدمت کاوه، په قاهره کې هم دی غلی کېنناست او په جمعیة مکارم الاخلاق الاسلامیة کې یې، چې په قاهره کې لوی اسلامي جمعیت و برخه واخیسته. دلته یوه ټکي ته درنو لوستونکو پام را اړوم، هغه دا، چې امام حسن البنا خپله مشري نه غوښته، د هغه یوازینی هدف اسلام ته کار کول و، ځکه خو هغه ځانته جمعیت جوړ نه کړ او د هغه وخت په جمعیة مکارم الاخلاق الاسلامیة کې یې برخه واخیسته. امام حسن البنا به هېڅ کله هم په مساجدو کې د علماو تقریرونو کې غېر حاضري نه کوله او هرې محاضرې ته به یې ځان رساوه.

له هغو علماو څخه، چې امام حسن البنا علم او فکر حاصل کړی و، د وخت مشهور علما وو، چې له هغو څخه د امام حسن البنا پلار مرحوم شیخ أحمد البنا، شیخ محمد زهران، شیخ أبوشوشه، شیخ عبد الوهاب الحصافي، شیخ موسی أبوقمر، شیخ أحمد بدیر، شیخ محمد عبدالمطلب او داسې نور.

امام حسن البنا شهید ته د اخوان المسلمین فکر په دار العلوم کې ورغی، کله چې شهید امام په ۱۹۲۷زکال کې دار العلوم په لومړۍ درجه پای ته ورساوه. په دغه وخت کې هغه د اخوان المسلمین په څېر د یو حرکت د تأسیس اړتیا احساس کړه. ده په یوه لیکنه کې، چې سرلیک یې: "ماهي آمالک في الحیاة بعد أن تتخرج" (له فراغته وروسته څه هیلې لرې؟) و، لیکلي وو، وروسته لدې، چې دار المعلمین پای ته ورسوم دوه لویې هیلې لرم یوه یې خاصه هیله ده او بله یې عامه:

لومړۍ خاصه هيله: څومره، چې مې له لاسه کېږي د خپلې کورنۍ او خپلوانو د خوښولو لپاره به هڅې وکړم.

دوهمه عامه هيله: په ورځ کې د ماشومانو لارښوونه او روزنه او په شپکې د پلارانو روزل، څو د دوی ژوند کې خوښي رامنځته کړم، چې پدې هيله کې زه له ډول-ډول لارو نه استفاده کوم. يو د تقرير او خبرو اترو له لارې او بل د کتاب ليکلو او سياحت له لارې.

امام حسن البنا، چې څه ليکلي و، هغه يې وکړل، د مسلمانانو د بچيانو د روزلو لپاره يې په ۱۹۲۳ز کال کې په اسماعيليه کې استاذي شروع کړه او د دې ترڅنګ يې په ځينو دوکانو او قهوه خوريانو کې خلکو ته خبرې کولې. هغه ځکه په مساجدو کې خلکو ته دعوت نه خپراوه، چې هغه مهال مساجد د مذهبي اختلافاتو په مراکزو بدل شوي وو او په بازارونو کې يې ځکه دعوت کاوه، چې خلک به هلته ډېر وو. شهيد امام لدې سره-سره په نورو کليو او ښارونو کې د دعوت لپاره ګرځېده او دغو اصولو د هغه په دعوت کې مهمه اغېزه لرله، چې مفصل به د لوستونکو مخې ته وړاندې شي.

## کورنۍ او کورنی ژوند:

امام شهيد حسن لبنا د احمد عبدالرحمن الساعاتي زوی و.لکه څرنګه چې مو مخکې يادونه وکړه د امام حسن البنا پلار د کلي مشهور ازهري عالم او د ډېرو کتابونو ليکوال و، چې له هغو څخه الفتح الرباني لترتيب مسند الامام احمد دی. شيخ عبدالرحمن الساعاتی د خپل کلي د مسجد امام و او ټول عمر يې فقهي بحثونو باندې ځان بوخت ساتلی و. ام سعد ابراهيم صقر يې مور وه.

عبدالباسط، جمال البنا او عبدالرحمن البنا د امام شهید حسن البنا ورونه دي. عبدالرحمن البنا د اخوان المسلمون د تحریک له مشرانو څخه و او د مکتب الارشاد غړی و.

شهید حسن البنا شپږ لورګانې او دوه زامن لرل. لورګانې یې : وفاء، سناء، رجاء، صفاء، هالة، او استشهاد دي. صفا یې په ژوند کې وفات شوه او استشهاد یې د شهادت نه وروسته زیږېدلې، ځکه یې د استشهاد نوم پرې ایښی دی. د امام حسن البنا لور سنا وایي، چې نیکه مې غوښتل په استشهاد باندې دماء (وینې) نوم کیدي خو مؤظفو کسانو ورته ویلي وو ، چې دا نوم به د دې لپاره مشکل جوړ کړي، بیا یې پرې استشهاد نوم کېښود. هغوی لدې نوم سره هم مخالفت کاوه، خو نیکه مې ورته وویلې، چې که دا نوم تاسو نه پرېږدئ زه هېڅ نوم پرې نه ږدم.

د امام حسن البنا زامن : احمد سیف الاسلام او محمد حسام، چې وروستی یې په ژوند کې وفات شوی او احمد سیف الاسلام په اسلامي حرکت کې له مخکښانو څخه شمېرل کېږي.

د امام حسن البنا واده : امام حسن البنا د اسماعیلیې الصولي له لور سره واده وکړ. استاذ الصولي تجارو او ډېر کله به یې حسن البنا مېلمه کاوه. یوځل یې ورته وویل: استاذه غواړم د یوې موضوع په اړه درسره خبره وکړم، زما یوه لور ده چې د نورو نجونو په څېر نده ځکه چې هغه حافظه او پوهه نجلۍ ده. دا خبره مناسبه خبره نده چې زه یې چاته وکړم، هغې پسې ډېر کسان راغلي و چې واده ورسره وکړي خو ما نده منلې. استاذ حسن البنا د هغه په مطلب وپوهېد ورته یې وویل: که خدای غوښتي وو هغه څوک به ورپه نصیب کړي چې ساتنه یې کوي. بیاهم شیخ ټینګ شو. بیا ورته حسن البنا وویل: ای شیخه اوس زما کار دعوت دی او بس، ما ځان همدغه دعوت ته هدیه کړی دی. بیا شیخ وویل: کله چې داسې انسانه واده کړې په دعوتي بوختیاو کې به درسره

مرسته وکړي. حسن البنا وويل: زما معاش دومره دی. دومره خپل پلار ته استوم او دومره ورونو ته، پاتې زما مواصلاتي مصرف دی.

بيا شيخ وويل: وروره هغه پوهه نجلۍ ده، تا له دعوته نه وباسي، بيا يې وويل: فکر وکړه چې خديجه ده. بيا امام حسن البنا قانع شو او خپله مور يې ورواستوله. کله چې د امام حسن البنا مور ورغله، د هغې قرات او ښايست يې خوښ شو. بيا يې حسن البنا ته وويل: حسنه زويه دا ډېره ښه ښځه ده، څه چې غواړې پکې شته.[14]

د امام شهيد حسن البنا د شهادت پرمهال د هغه د اولادونو عمرونه: سنا: يولوس نيم کلنه. احمد سيف الاسلام: څورلس نيم کلن. وفا: اولس کلنه.

د امام شهيد حسن البنا د لور سنا څخه پوښتنه وشوه، چې امام حسن البنا د يوه لوی اسلامي حرکت مشر و. آيا د هغه دغه مصروفيتونو هغه له تاسو او کورنۍ څخه مصروف کړی و؟ يعنې ستاسو په حق کې خو به کمی نه وي شوی؟ هغې وويل: موږ هېڅکله هم دا احساس نه دی کړی، چې هغه کوم دعوتي مشکل لري. هغه کله هم کور ته دعوتي او تحريکي مشکلات ندي راوړي. کله، چې تاسو زما د پلار رحمه الله ژوند ته وګورئ يقيناً هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د لارښوونو مطابق ژوند کاوه، هغه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د هغې وينا مطابق کار کاوه، چې وايي: (ان لبدنک عليک حقا... )[15]
د اخوان المسلمين تاسيس:

کله چې شهيد امام حسن البنا دار العلوم پای ته ورساوه، هغه پدې فکر کې شو، چې يو داسې خوځښت جوړ کړي، چې له يوې خوا مسلمانان له انحراف څخه اصيلې اسلامي لارې ته راواړوي او له بلې

14 ذکرياتي مع البنا، ليکوال:الحاج محمد نجيب
15 حسن البنا ټکی او آر جي.

لورې وکولی شي سیاسي اصلاح منځته راولي او بېرته اسلامي خلافت راژوندی کړي، ځکه هغه پدې فکر و، چې د خلافت په نه شتون کې ټول مسلمانان ملامت دي او دوی به د الله (ج) له لورې پوښتل کېږي.

په دغه وخت کې اسلامي خلافت نوی لمنځه تللی و او په اسلامي نړۍ باندې استعمارګرو منګولې لګولې وې. ایټالیې په لیبیا باندې په ۱۹۱۱زکال کې حمله کړې وه او شعار یې د اسلام لمنځه وړل و. فرانسې په مراکش او د اسلامي نړۍ په لویې برخې خپټه اچولې وه. ایران د انګلستان او روسیې ترمنځ وېشل شوی و او هندي مسلمانان د انګرېز تر استعمار او د هندوانو تر مشرۍ لاندې اوسېدل. په ترکیې کې ماسوني حرکت حاکم و. بلې خوا د حجاز عربانو له خلافت څخه د شریف حسین تر مشرۍ لاندې بېټلون غوښت. تردې، چې په ۱۹۲۴زکال کې د استعمارګرو له لورې یوه تاریخي حادثه منځ ته راغله، چې هغه د اسلامي خلافت لمنځه تلل و.

په ۱۹۲۸زکال کې په اسماعیلیه کې امام حسن البنا ته دا معلومه شوه، چې که د امت اصلاح غواړي نو د مسجد پرځای دې هغه ځایونو کې دعوت وکړي، چې خلک پکې ډېر وي، ځکه چې په هغه وخت کې جوماتو ته مذهبي اختلافات ننوتي وو. جوماتونه د دې پرځای، چې د دعوت او عبادت ځای وي د ټوکو او ډرامو پر ځایونو بدل شوي وو، ځکه شهید امام د جومات پرځای بازار ته مخه کړه.

همدا ده چې لوي محدث ناصر الدین الالباني وایي: ((حسن البنا په ځوانانو لوی احسان کړی، همدا حسن البنا و چې ځوانان یې له قهوه خوریو، سینماګانو او نورو ځایونو څخه د اخوان المسلمین په دعوت راټول کړل))[16].

[16]من اعلام الدعوه و الحرکه الاسلامیه، صفحه ۱۰۶۵

امام البنا پدې فکر و ، چې اسلام څلور اساسي ستنې لري چې عبارت دي له: حکومت، امت، فرد او کورنۍ. ده به ویلې، چې غرب د دې لپاره، چې اسلام لمنځه یوسې خلافت ختم کړ، بیا یې اسلامي حکومت په بې دینه او سیکولر نظام واړاوه. بیا یې امت د لمنځه وړو هڅې پیل کړې او د اسلامي قوانینو پرځای یې اسلامي امت ته وضعي قوانین راوړل، چې د دې په نتیجه کې کورنۍ ته هم ضرر ورسېده. نر او ښځې یې سره یوځای کړل او غربي کالي یې دلته رواج کړل او په همدې سلسله کې یې په ځینې هېوادونو کې د میراث اسلامي لارښوونې دوي لمنځه وړل.

د دې لپاره حسن البنا غوښتل، چې د مسلمانانو مخه د اسلام اصیل مفهوم ته واړوي، هغه د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره ډېرې هڅې وکړې، چې له ده څخه ډېر خلک متأثر شول او لږ-لږ مریدان یې پیدا کړي وو. یوځل له خپلو شپږو ملګرو سره ناست و او د اسلام د مجد او عظمت د بېرته راګرځولو په اړه غږېدل، دوی په خپل منځ کې د اسلام د خدمت لپاره ژمنې وکړې. امام حسن البنا دوی ته وویل، چې موږ د اسلام د خدمت په لار کې وروڼه یو نو موږ (اخوان المسلمون) یو. هغه شپږ کسه، چې امام البنا ورسره اخوان المسلمین تأسیس کړ دا دي: حافظ عبد الحمید ، أحمد الحصري، فؤاد إبراهیم، عبد الرحمن حسب الله، إسماعیل عز، او زکي المغربي.

د دوی لدې تعهد نه وروسته دوی یو منظم اسلامي کار شروع کړ او اخوان المسلمون له همدې ځایه جوړ شو یعنې د اخوان المسلمین د تأسیس کال ۱۹۲۸ز دی. په دغه وخت کې په مصر کې نور اسلامي حرکتونه هم وو ، خو د هغو حرکتونو اهداف محدود وو او اسلام یې هراړخیز نه تعبیراوه ، مثلاً هغو به یا خیریه کارونه کول او یا د بېته ورته نور کارونه، مګر د اخوان المسلمون په څېر حرکت په هغه وخت کې نه و.

حسن البنا په اسماعیلیه کې دوه اسلامي معهدونه تأسیس کړل، چې یو یې هلکانو لپاره و دا معهد الحراء نومېده او بل یې د نجونو لپاره وه چې، مدرسه امهات المومنین نومېده. د دې ترڅنګ امام حسن البنا یو مسجد او دار الاخوان هم جوړ کړل. پاتې دې نه وي، چې پدې وخت کې امام حسن البنا مسجد او مکتبونو په جوړولو کې د ډېرو خلکو له لورې پدې تورن شو، چې دی له استعمارګرو څخه پیسې اخلي او داسې فعالیتونه کوي خو امام حسن البنا د دوی شبهو ته ځواب ویلې او هېڅ کله یې خپل فعالیت د داسې خبرو لپاره ندی بند کړی. هغه به له خلکو څخه کومکونه اخیستل، مکتبونه یې پرې جوړول او د ېته ورته نور فعالیتونه یې پرې کول.

امام شهید حسن البنا د دې لپاره، چې ښځه هم په ټولنه کې برخه واخلي او د ټولنې په اصلاح کې خپل رول ولوبوي د ښځو لپاره یوه څانګه د (الاخوات المسلمات) په نامه جوړه کړه او د دې څانګې په مشرۍ یې د مسلمانو ښځو د روزلو لپاره (دار التربیه الاسلامیه للبنات) هم جوړ کړ.

همدارنګه اخوان المسلمین کوښښ کاوه، چې اسلامي ټولنه په قران او سنت جوړه کړي، چې دا د اخوان المسلمین له اساساتو څخه دي. د امام حسن البنا هدف ښکاره و. هغه د اسلامي هېوادونو آزادي او د اسلامي خلافت رامنځته کول غوښتل او وسایل یې عمیق ایمان، دقیق جوړښت او دوامداره کار و.

په ۱۹۳۲زکال کې امام حسن البنا خپل دعوت له اسماعیلیې څخه د قاهرې په لور انتقال کړ او هلته یې یو عمومي مرکز هم د اخوان المسلمین د حرکت لپاره جوړ کړ، چې دا د دعوت او د تنظیم د خپراوي لپاره ډېر موثر کار و. امام البنا شهید د خپلو یادښتونو (مذکرات الدعوة و الداعیة) په کتاب کې لیکي: ((کله چې موږ له اسماعیلیې

څخه قاهرې ته د اخوان المسلمین عمومي مرکز انتقال کړ، هلته مو په لاندېنیو برخو کې فعالیتونه کول:

په مساجدو کې درسونه او محاضرې، د (رسالة المرشد ) په نامه یوه مجله، چې دوه ګنې چاپ شوه او لدې وروسته مو مجلة الاخوان اوونیزه خپره کړه او د دې ترڅنګ مو د النذیر مجله هم چلوله. څو رسائل مو هم خپاره کړل. له نورو ځایونو څخه لیدنه، منظم سپورت، پوهنتونو او مکتبو ته د دعوت رسول، په قاهره او نورو ځایونو کې د کانفرانسونو جوړول، ځینې مهمې اسلامي ورځې لمانځل، په اسلامي-ملي قضایاو کې برخه اخیستل، د کتابونو، مقالو او رسائلو له لارې سیاسي او ټولنیزې اصلاح په اړه فعالیت، اسلامي حرکتونو سره مرسته کول(لکه د حركة المقاومة التبشیر سره مرسته کول)، په هغو حکومتونو، چې اسلام نه عملي کوي نیوکه، چې دا هرڅه مو په مجلو او اخبارونو کې لیکلي دي)).
امام حسن البنا د دعوت د خپراوي لپاره په کلیو او مختلفو سیمو ګرځېده. یو ځل د اخوان المسلمین ځوانانو په صعید کې یوه لویه غونډه جوړه کړې وه، چې امام حسن البنا پکې وینا وکړي. کله چې غونډه پای ته ورسېده یو دهقان راغی او امام حسن البنا ته یې په ډېر په ټینګار وویل چې له هغه سره مېلمه شي، دا چې له حسن البنا سره ډېر ملګري وو او دهقان غریب سړی و، ورته یې وویل چې یوائې زه درځم او صرف چای به درسره څښم. دهقان ومنله. حسن البنا ورغی، له هغه سره یې چای وڅښه او بېرته د خپلو ملګرو لورته ورغی، کله چې حسن البنا د دهقان له کوره ولاړ، هغه د حسن البنا نه پاتې شوی چای وڅښه چې برکت او شفا پکې ده. کله چې سړي پاتې شوی چای وڅښه، ګوري چې ښځې یې له ډېرې وارخطایۍ د بورې پر ځای مالګه اچولې وه. خلکو له حسن البنا دومره سره مینه لرله او حسن البنا هم دومره لوړ اخلاق لرل چې د هغوی له مالګې ډک چای یې وڅښه خو هغه یې ونه پوهاول، څو خفه نشي.

د امام حسن البنا دعوت يوائې تر اسکندريې او قاهرې پورې محدود نه و، مګر هغه غوښتل مصر او ټوله اسلامي نړۍ ته خپل د دعوت وړانګې ورورسوي، هغه يوائې د مصر د اصلاح په فکر نه و، مګر غوښتل يې ټوله اسلامي نړۍ ته خپل د دعوت رڼا ورورسوي. همدا وه، چې شهيد امام حسن البنا په ټول مصر کې وګرځېد او په ډېر لږ وخت کې يې ډېر مريدان پيدا کړل. امام البنا وکولی شو، چې په پينځلس کالو کې دوه زره مصري کلي وګوري او له هغو سره د دعوت په اړه وغږيږي.

امام حسن البنا د ځوانانو د روزلو لپاره ځينې کمپونه هم جوړول څو په هغه قرآني آيت عمل وشي، چې الله تعالی پکې فرمايي: و اعدو لهم ماستطعتم من قوة و من رباط الخيل ترهبون به عدوا الله و عدوکم. د اوړي په رخصتيو کې امام حسن البنا داسې سياحتي رحلې کولې او ځوانان يې پکې روزل. شهيد امام د ناروغانو د علاج لپاره ځينې روغتونونه هم جوړ کړل او د دې ترڅنګ يې ځينې شرکتونه هم جوړ کړل، چې مشهور يې: شرکة المعاملات الاسلامية، شرکة الاخوان للصحافة، شرکة التجارة و الاشغل الهندسية او داسې نور شرکتونه.

امام حسن البنا په ۱۹۴۸زکال کې شهيد شو، حکومت او د اسلام دښمنانو داسې ګومان کاوه، چې، د شهيد امام په وژنه، د دوي د مشرانو په زنداني کولو او د دوی د مالونو په اخيستلو به د اخوان المسلمين د حرکت او د دوی د اسلامي کار مخه ونيول شي، خو امام البنا داسې کسان روزلي و، چې تر ننه هغه تنظيم مخ پر وړاندې بيايي او له هغه وخت څخه اوس ډېر پراخ شوی دی. ټولې عربي او اسلامي نړۍ کې خپل استازي حرکتونه لري. د دې حرکت داسې پرمخ تلل او د داسې ژوندي پاتې کېدو علت څه دی؟ په داسې حال کې، چې په هغه وخت کې او له هغه وخت څخه وروسته هم ډېر اسلامي خوځښتونه جوړ شول، چې اوس يې چاته نوم هم نه دی معلوم.

زما په اند دا خوځښت ځینې داسې ځانګړنې لري، چې په نورو حرکتونو کې نه لیدل کېږي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- د قرآن او سنت مطابقت؛
۲- له حده ډېر اخلاص، د امام البنا د فکر شاګردان د دې فکر د ژوندي ساتلو لپاره له خپل ځان، مال او اولاد څخه هم تېر وو؛
۳- د اسلام څخه هر اړخیز فهم لرل؛
۴- د ټولنې هرې طبقې ته پکې ځای ورکول؛
۵- د بیعت اصول.

# حسن البنا...
# حیرانوونکی شخصیت

امام حسن البنا عجیب شخصیت و. ځینې داسې صفات یې لرل چې د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د ډېرو لوړو مسلمانو شخصیتونو ځانګړنې وې. ویل کېږي چې د حق په ویلو کې ډېر شجاع و. همدا وه چې وینا کې یې الله تعالی ډېره اغېزه اچولې وه.

د حسن البنا د شجاعت په باب ډېرې کیسې دي. شیخ کمال خطیب وایي کله چې په ۱۹۳۲ز کال کې د اخوان المسلمین ځوانانو د فلسطین د قضیې لپاره په مصر کې لاریونونه کول، حکومت د څېړنې لپاره وروغوښت. مخکې لدې چې حسن البنا د مسؤول کس دفتر نه دننه شي، یو مدافع وکیل ورپاڅېد او ورڅخه یې وغوښتل چې د مسؤول په وړاندې د ده دفاع وکړي. امام حسن البنا متوجه شو چې د روژې میاشت ده او د مدافع وکیل په لاس کې سګرټ دی څښې یې، امام حسن البنا ورته وویل: له هغه چانه مرسته نه غواړم چې د خدای اوامر نه پر ځای کوي.

استاذ خطيب وايي يوه ورځ د انګلستان له سفارته يو څوک د اخوان المسلمين مرکز ته راغی. امام حسن البنا سره يې وکتل او ورته يې وويل: انګلستان پلان لري له ديني او اجتماعي ټولنو سره مالي مرسته وکړي. موږ ستا خدمتونه ستايو او ستاسو مصارف پرته له عوضه درکوو، موږ له فلانۍ او فلانۍ ټولنې سره هم مرسته کړې، دا چېک د لس زره جنيهو چېک دی موږ يې تاسو ته د مرستې په شکل درکوو.

امام حسن البنا له ورې موسکا سره ورته وويل: تاسو د جګړې په حال کې يئ، تاسو دغو پيسو ته تر موږ ډېر احتياج لرئ. هغه لاهم پيسې ډېرې کړې خو بيا هم حسن البنا ونه منله. د ځينو ځوانانو زړه کېده چې امام حسن البنا پيسې واخلي، دوی ويلې چې موږ خو دې پيسو ته اړتيا لرو نو په سمه لاره کې به يې مصرف کړو، خو حسن البنا نه منله او ويلې يې: موږ په خپلو پيسو جهاد کوو نه د نورو په پيسو، موږ په خپلو ځانونو جهاد کوو، نه د نورو په ځانونو.

د مصر جمهور رئيس انور سادات وايي چې شيخ حسن البنا ته به ډېرکله ورته، ما به ورته سياسي او فوځي مشکلات بيانول خو دی مې هېڅکله هم ونه ليد چې له اسلام او دين نه يې خبره وېستي وي، هره خبره به يې دغه چوکاټ کې کوله[17].

دوکتور طه حسين د (مستقبل الثقافه فی مصر) په نامه کتاب ليکلی و. دغه کتاب ځينو خوښاوه او ستاينه به يې کوله او ځينو به پرې نيوکې کولې.

استاذ حسن البنا نه غوښتل شوي و چې د نوموړي کتاب په اړه خپل نظر ورکړي. پينځه ورځې مخکې لدې چې حسن البنا هلته ولاړ شي، مکتب ته د تلو راتلو په وخت کې يې کتاب لوسته. کله چې دار شبان المسلمين ته ولاړ، ګوري چې ځای له پوهانو او اديبانو ډک دی.

[17] الصدفه اللتى جمعتنى بالمرحوم حسن البنا، ليکوال: انور سادات

امام حسن البنا د دريځ مخې ته ودرېد. د الله تعالی له حمد او ثنا نه وروسته يې پر کتاب نيوکې پيل کړې. پرته لدې چې کتاب ورسره وي، اوږدو فقرو ته به يې اشاره کوله او د کتاب د صفحې نمبر يې هم ورسره ويلې. ټول خلک يې دغه ډول ذهن ته حيران کړي وو. طه حسين هم کوم پټ ځای کې ناست و او خپل د کتاب نقد يې په خپلو سترګو ليده.

بله ورځ طه حسين له حسن البنا نه وغوښتل چې دواړه سره خبرې کوو. دوی دواړو اوږدې خبرې وکړې. طه حسين وويل: کاشکې زما دښمنان د حسن البنا په څېر وای، په لومړۍ ورځ به مې لاس وروړاندې کړی و. بيا يې حسن البنا ته وويل: ستا نقد ته مې غوږ نيولی و. ستا پځير نقد هېڅوک نشي کولی.

# د اخوان المسلمين اسلام

شهيد امام حسن البنا د اخوان المسلمون تحريک په نامه کتاب کې د اخوان المسلمين اسلام په نامه ډېره ښه ليکنه کړې. امام حسن البنا په دغه ليکنه کې مسلمانانو ته د اخوان المسلمين اسلام ورمعرفي کوي. له دغې ليکنې څخه په ښه ډول ښکاره کېږي چې شهيد حسن البنا څرنګه په خپله ټولنه کې خلک اسلام ته بلل. شهيد حسن البنا ليکي: ((اجازه راکړي دوستانو چې زه دا تعبير استعمال کړم. لدېنه هېڅکله دا موخه بايد وانه خيستل شي چې ګوندي د اخوان المسلمين اسلام له هغه اسلام سره چې محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم راوړي توپير لري، مګر لدې تعبيرونه زما اصلي موخه دا ده چې مسلمانانو په وروسته زمانو کې له خپله ځانه په اسلام کې څه نوي صفتونه، خصوصيتونه، تعريفونه او تصورات راپيدا کړل او هغه يې د اسلام په نوم ياد کړل او د اسلام له وسعت او نرمۍ نه يې بده او ناوړه استفاده وکړه. کنه د اسلامي نظام په وسعت او نرمۍ کې خو لوی حکمت و. نتيجه دا شوه چې د اسلام په معنی او مفهوم کې لوی لوی اختلافات

راپيدا شول او د خلکو په زړونو کې د يوه اسلام نه بېلا بېل تصويرونه پيدا شول. پدې کې څه اسلام ته نږدې و او څه لرې خو د اسلام اصلي تصور نه يې زيات ه فاصله لرله. پدې کې څه داسې هم و چې د حقيقي اسلام تصور سره يې مطابقت درلود چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه اصحابو تمثيل کړي و.
پدې کې څه داسې کسان دي چې د هغو په نزد د اسلامي نظام تصور يوائې د ظاهري عباداتو په حدودو پورې تړلی و ))[18] بيا شهيد حسن البنا داسې نور تشريح کوي چې د اسلام اصلي مفهوم يې هېر کړي او صرف په عباداتو کې يا روحانيت کې يا داسې نورو موضوعاتو کې راتنګ کړي و.

په نوموړي بحث کې حسن البنا شهيد د اخوان المسلمين په اړه د خلکو تصورات ليکي، حسن البنا زياتوي: ((د اخوان المسلمين په هکله ځينې خلک فکر کوي چې دا د وعظ او ارشاد يوه تبليغي ډله ده او کوښښ کوي چې خلک د موعظو په نامه له دنيا نه ګوښه کړي او د آخرت په ياد کې يې وساتي.

څه کسان داسې فکر کوي چې اخوان المسلمين يوه صوفيانه طريقه ده او زيار وباسي چې د خلکو ته ډول ډول اذکار ورکړي. څه خلک داسې ګومان کوي چې دا يوه نظري فقهي ډله ده او بس همدا يې کار دی چې په ځينو فقهي مسايلو کې جګړې، بحث او مباحثې وکړي، خلک د خپل نظر منلو ته مجبور کړي او که څوک يې نه مني له هغوی سره لاس او ګرېوان شي ))[19].

وروسته لدې چې شهيد امام حسن البنا د اخوان المسلمين په هکله د خلکو تصورات ليکي بيا د اخوان المسلمين اسلام او دا دعوت هغه ډول معرفي کوي چې حقيقت يې دی او دی خپله پرې باور لري. دا فکر

[18] د اخوان المسلمون تحريک، صفحه۹ او ۱۰
[19] د اخوان المسلمون تحريک، صفحه۱۱

يې د همدې لپاره جوړ کړی او ورته له خپلو ملګرو سره يوځای کار کوي. امام حسن البنا ليکي:

((۱. موږ پدې عقيده لرو چې اسلامي احکام او تعليمات هر اړخيز دي، د خلکو دنيوي او اخروي ټولې چارې تنظيموي.

۲. د دې ترځنګ اخوان المسلمين پدې عقيده لري چې د اسلامي تعليماتو بنسټ او سرچينه د خدای جل جلاله کتاب او د هغه د استاځي صلی الله عليه وسلم سنت دي.

۳. همدا راز اخوان المسلمين پدې هم باور لري چې اسلام يو عام او هر اړخيز دين دی او په ټولو زمانو کې يې د ټولو ولسونو او امتونو د ژوندانه چارې منظمې کړي دي او په هره زمانه او هر ځای کې د تطبيق صلاحيت لري))[20].

## حسن البنا او د دعوت ملګري:

د امام حسن البنا د دعوت ملګری، وتلی عالم شيخ محمد الغزالي له امام حسن البنا سره د آشنايۍ په اړه وايي: ((زه په اسکندريه کې د ثانوي زده کړې په مرحله کې وم. عادتا به د عبدالرحمن بن هرمز جومات ته ډېر کله تلم او هلته به مې خپل درسونه زده کول. يوه ورځ يو ځوان پاڅېد او خلکو ته يې لنډه وينا وکړه. ده په خپله وينا کې دا حديث شرحه کړ (اتق الله حيث ما کنت...و اتبع السيئه الحسنه تمحها...و خالق الناس بخلق حسن) دا حديث په قلبونو باندې ډېر اغېزمن و. دا ځوان شهيد حسن البنا و. له هماغه وخته مې ورسره اړيکه ونيوه او د اسلام په لاره کې مو ګډه خدمت کاوه، تر هغې چې ۱۹۴۹ی کې شهيد کړل شو))[21].

---

[20] د اخوان المسلمون تحريک، صفحه۱۲-۱۸

[21] شيخ محمد الغزالي، څرک مجله، پرلپسې ٤٦ ګڼه

استاذ صقر وايي چې امام حسن البنا د حق په ويلو کې ډېر شجاع او زړور و. يوه ورځ يو کس راغي، له حسن البنا څخه يې وغوښتل چې د هغه په کتاب (لماذا انا مسلم؟) باندې مقدمه وليکي. حسن البنا ليکوال له پخوا پېژانده، نو ورته يې وويل: آيا ته لمونځ کوې؟ هغه په صراحت سره وويل: نه. استاذ بنا ورته وويل: نو څنګه مسلمان يې؟ ما پرېږده زه دا کار نه شم کولی. بيا هم مولف شله و چې مقدمه به ليکې. استاذ صقر وايي چې امام حسن البنا مقدمه وليکله، نه يې کتاب ته پکې اشاره وکړه او نه مؤلف ته مګر د اسلام د جمال او تعليم ستاينه يې پکې وکړه.[22]

امام يوسف القرضاوي له اقرا تلويزيوني شبکې سره د خپل ژوند او خاطرو په ناسته کې د امام شهيد حسن البنا په اړه وايي: ((په ازهر کې وم. څوارلس کالن وم چې حسن البنا په لومړي ځل وليد. په هغه وخت کې به په ازهر کې د نبوي هجرت د لمانځلو په اړه لويې غونډې کېدې، شاعرانو به شعرونه ويل، خطباو به تقريرونه کول او د نبوي هجرت ياد به يې تازه کاوه. اخوان المسلمين به هم ځينې غونډې جوړولې. د غونډې په پای کې به شهيد حسن البنا خبرې کولې، څو خلک د هغه خبرو ته په انتظار کې د غونډې تر پايه پاتې شي.

يو ځل د اخوان المسلمين په دغه ډول غونډه کې، زما د کاکا زامنو وغوښتل برخه واخلي. ما ته يې وويل چې ته ويده شه ځکه ته ماشوم يې. ما ورته وويل چې نه زه هم ځم او د هغه خبرو ته به غوږ نيسم. دا چې ما ټينګار وکړ، هغوی هم وويل سمه ده ته هم ولاړ شه. کله چې مې د حسن البنا خبرو ته غوږ ونيو، ټولې خبرې يې نوې وې، ډېره په زړه پورې وينا يې وکړه. کله چې غونډه پای ته ورسېده او موږ خپل ځای ته ولاړو، د کاکا زامنو ويل چې ښې خبرې يې وکړې. ما ورته وويل چې ما خو يې ټولې خبرې يادې کړې. بيا مې د هغه ټولې خبرې هغوی ته وويل. هغوی

[22] من اعلام الدعوه و الحركه الاسلاميه، صفحه۲۸۳

هم حيران شول چې څنگه مې يادې کړي. لدې وروسته به تل د هغه ويناو ته کېناستم او هره وينا کې به يې نوې خبرې کولې ))[23].
استاذ دوکتور جابر قميحه د حسن البنا د وينا په اړه وايي: ((يوځل حسن البنا زموږ ځای ته د وينا لپاره راغلی و. زه ماشوم وم. له پلار سره مې ورغلم. کله چې هغه وينا پای ته ورسوله، ما مې پلار ته وويل چې پلاره ! داسې وينا يې وکړه لکه ټولې خبرې چې يې ماته کړي وي. همدې وخت کې مې د پلار يو ملگری راغی او پلار ته يې وويل داسې وينا يې وکړه له هره خبره چې يې ماته متوجه وه ))[24].

د اخوان المسلمين دوهم مرشد العام استاذ حسن الهضيبي له امام حسن البنا سره د پېژندنې په اړه وايي: له اخوان سره مې له پخوا پېژندلي و. د هغوی څوانان مې ډېر خوښ وو. په ملي موضوعاتو کې داسې غرېدل لکه لوی مفکرين چې وي. يو ځل د دوی ځای ته ورغلی وم او د دوی مطبوعات مې ډېر خوښ شول. تر دې چې يوه داسې شپه راورسېده چې زه په خپل دفتر کې وم. ځينې قضيې مې کتلې. همدې وخت کې زنگ ووهل شو، زما عادت نه و چې ور خلاص کړم. نېوهېږم دا ځل څنگه پخپله پاڅېدم او ور مې خلاص کړ. گورم حسن البنا دی، په غېږه مو سره روغبړ وکړ. حسن البنا کورته راغی. سره کېناستو او خبرې مو وکړې. د ماخوستن لمونځ مو يو ځای وکړ. بيا مرشد ولاړ. لدې وروسته مې خپل ځان د اخوان المسلمين په خدمت کې وقف کړ.

استاذ حسن الهضيبي له امام حسن البنا سره د وروستي ملاقات په اړه وايي: ((د شپې يوولس بجې وې. د کور ور وټکېده. ور مې خلاص کړ. حسن البنا و او له حکومت سره يې د خبرو اترو وروستي اخبار راوړي وو. نېوهېږم ولې مې زړه تنگ و.
زه پوهېدم چې دی به وژني. ممکنه نه ده چې دا ډول شخصيت دوی ژوندی پرېږدي.

---

[23] اقرا ټلويزيوني شبکې سره د امام قرضاوي مرکه
[24] د علماء مبدعون له سلسلې چې استاذ جابر قميحه پکې مېلمه و

غوښتل يې ولاړ شي. ما غېږه ورکړه او ښکل مې کړ، خپلې اوښکې مې نه شوې ټينګولی. په موسکا يې راته وويل: ﴿ قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللّهُ لَنَا ﴾(التوبة: 51 ) بيا حکومت شهيد کړ ) )[25].

## د امام حسن البنا ليکنې :

استاذ عبدالبديع صقر د اخوان المسلمين له مؤسسينو څخه دی، دی د حسن البنا شهيد د ليکنو په اړه وايي: ((يوه ورځ مو له شهيد حسن البنا نه پوښتنه وکړه، ولې ډېر تاليفات نه لرې؟ حسن البنا وويل: زه د انسانانو په تاليف مشغول يم...بيا دې هغوی کتابونه تاليف کوي ) )[26].

سره لدې، چې شهيد حسن البنا په دعوتي کارونو کې دومره مصروف و، چې حتی خپلې کورنۍ ته يې په ډېر سختۍ رسيدګي کوله، خو بيا هم هغه ځينې کتابونه ليکلي.

۱- مذکرات الدعوة و الداعية ( د امام حسن البنا يادښتونه، مخکې تردې، چې دا کتاب مکمل کړي او چاپ ته يې تيار کړي، شهيد شو، خو بيا هم په نيمګړې بڼه له چاپه راووت )
۲- الماثورات
۳- احاديث الجمعة
۴- المرآة المسلمة
۵- تحديد النسل
۶- السلام في الاسلام
۷- مباحث في علوم الحديث
۸- قضيتنا
۹- الرسائل

---

[25] عندما بكى الهضيبى و ابتسم البنا، موسوعه الاخوان المسلمين
[26] من اعلام الدعوه و الحركه الاسلاميه. صفحه ۲۸۳

۱۰- رسالة المنهج
۱۱- رسالة الانتخابات
۱۲- مقاصد القرآن الكريم

## د امام حسن البنا په اړه کتابونه او مستند فلمونه:

۱- الجريمة السياسية –د امام حسن البنا په اړه د الجزيرې ټلویزیون مستند فلم
۲- امام الجيل- د امام حسن البنا په اړه د اخوان انلاین مستند فلم
۳- امثلة من التربية الحضارية عند الامام البنا-لیکوال: دوکتور سید دسوقي
۴- الشهيدان- لیکوال: صلاح شادي
۵- معالم المشروع الحضاري في فكر الامام الشهيد حسن البنا- لیکوال: دوکتور عمارة
۶- التربية السياسية عند الامام حسن البنا- لیکوال: دوکتور یوسف القرضاوي
۷- التربية الاسلامية و مدرسة حسن البنا- لیکوال: دوکتور یوسف القرضاوي
۸- منهاج حسن البنا بين الثوابت و المتغيرات- لیکوال: دوکتور محمد امین جمعة
۹- حسن البنا و ثورة اليمن- لیکوال: حماده حسنی
۱۰- حسن البنا...الرجل القرآني- لیکوال: رويير جوکسون
۱۱- حسن البنا مواقف في الدعوة و التربية-لیکوال: حسن عباس سیسي
۱۲- همدارنګه په زرګونو مقالې

## د اخوان المسلمین منحلېدل:

امام حسن البنا د فلسطین د آزادۍ لپاره جهاد شروع کړ او د صهیونستي ځواکونو په مقابل کې د اخوان المسلمین ځوانو مجاهدینو ډېر په اخلاص وجنګېدل. یهودو ته یې غتهٔ ضربه ورسوله، یهود ډېر وارخطا شول، صهیونستانو د غرب له لارې د مصر په حکومت فشار راوړ، چې د اخوان المسلمین مشران شهیدان او بندیان کړي او دا مبارک حرکت لمنځه یوسي.



امام حسن البنا په فلسطین کې له استاذ سباعي، عمر بها الدین او نورو ملګرو سره

همدا وه، چې په د ۱۹۴۸ز د دسمبر په میاشت کې د مصري حکومت له لورې اخوان المسلمین منحل اعلان شو، د اخوان المسلمین مشران بندیان شول او د دوي ملکیتونه مصادره شول. دوی له امام حسن البنا سره لیدنه کتنه ممنوع کړې وه او هرڅوک، چې به یې لیدو ته ورتلل هغه به بندي کېده.

# د امام حسن البنا شهادت
# (ستر سیاسي جنایت)

امام حسن البنا د مصر لومړي وزیر ته لیک واستاوه او ورته یې ولیکل: (کله چې تاسو اخوان المسلمین منحل اعلان کړ او د هغوی ځوانان مو په فلسطین او مصر کې بندیان کړل، ما هم بندي کړئ ځکه، چې زه هغه څوک یم، چې هغوی مې روزلي دي) هغوی د ده دا غوښتنه ونه منله. امام حسن البنا له حکومت څخه وغوښتل، چې ورته اجازه ورکړي د خپل یو ملګري الحاج عبدالله النبراوي کور ته ولاړ شي، حکومت دا هم ونه منله او الحاج عبدالله النبراوي یې هم بندي کړ.
امام حسن البنا خوب لیدلی و، چې هغه ته حضرت عمر رضي الله عنه وایي، چې "حسنه ته وژل کېږې!" هغه هم پدې مطمئن و، چې حکومت به دی شهیدوي.

د ۱۹۴۸ز کال د فبروري په دولسم تاریخ الناغي د لومړي وزیر نږدې کس د الشبان المسلمین رئیس محمد یوسف اللیثي ته ورغی او ورته یې وویل، چې استاذ حسن البنا ته دې ورشي او ورته دې وایي، چې له حکومت سره مذاکرات وکړي، سره لدې، چې محمد اللیثي وېرېده چې د امام حسن البنا کورته ولاړ شي، ځکه، چې هر څوک، چې د امام حسن البنا کورته نږدې کېده هغه به بندي کېده، خو بیا هم محمد اللیثي حسن البنا ته ورغی او لدې غوښتنې یې خبر کړ.

استاذ البنا ومنله، چې له حکومت سره مذاکرات وکړي او د مذاکراتو ځای یې د شبان المسلمین دفتر وټاکه، امام حسن البنا په ټاکل شوي وخت کې هماغه ځای ته ولاړ، هلته انتظار شو، خو د شپې تر اتو بجو هېڅ څوک رانغلل، ځکه، چې هغوی د ده د وژنې پلان نیولی و. کله چې امام حسن البنا پدې پوه شو، چې څوک نه راځي، له شبان المسلمین څخه ووت. بیرون د رمسیس په سړک کې تیپه تیاره وه. شهید امام حسن

ته هغه ټيکسي، چې پکې راغلی و بيرون ولاړه وه، امام حسن البنا سره عبدالکريم المنصور او محمد الليثي هم وو.

د سړک بلې خواته يو تور موټر ولاړ و. کله چې امام حسن البنا په موټر کې کېناست. له هغه تور موټر څخه دوه کسه راووتل او امام حسن البنا يې په نښه کړ، کله چې محمد الليثي د ډزو غږ واورېده، د ټيکسي خواته راغی، کله چې هغه راغی په هغه هم ډز وشو، خو هغه پرې ونه لګېده او له ځان سره يې په يوه کاغذ کې، چې په ځمکه پروت و، د موټر نمبر وليکه، د ټيکسي نمبر ۹۹۷۹ و، امام حسن البنا شپږ ډزه ويشتل شوی و، خو زخم يې دومره خطرناک نه و، د ژوند امکانات يې وو، خو کله چې د قصر العيني روغتون ته وړل کېږي، امام البنا خپله خپل کالي وباسي څو زخم يې ښکاره شي، ډېر ډاکټران راتلل، چې د امام البنا علاج وکړي، خو مسؤولينو د دې کار اجازه نه ورکوله، تر هغې، چې امام حسن البنا په څلورو ساعتونو کې ډېره وينه ضايع کړه او د شپې په دولس نيمو بجو کې يې وروستۍ ساه ووېسته او د شملې پېړۍ د دغه ستر مبارز شخصيت روح د خپل رب پر لور عروج وکړ.

د امام حسن البنا د شهادت کيسه د انعام السبکي په نامه يوه نرسه چې هغه وخت کې د قصر العينی په روغتون کې وه، کوي. انعام السبکي وايي: (( د حسن البنا په اړه مې له وړور محمود نه ډېر څه اورېدلي و. هغه د خپل زوی نوم هم حسن البنا ايښی و. کله چې مې روغتون کې واورېدل چې حسن البنا يې ويشتی، ورغلم چې ويې ګورم. په اطاق کې حسن البنا پروت و، وينه ترېنه روانه وه او هېڅوک په اطاق کې نه و. حتی دوکتور محمد الزنيني چې د يوې څانګې رئيس و او په اسلامپالنې تورن و، بيخي يې کوټې ته دننه کېدو ته هم نه وپرې ايښی.

تر هغه وخته مې ملک فاروق نه و ليدلی. پدې شپې يوې نرسې وويل ملک فاروق راغلی چې په خپلو سترګو د حسن البنا جسد ووينې چې

ژوندی دی او که مړ. هغه وېرېده چې د وژونکو زړه کې رحم نه وي راغلی پرې ایښی یې نه وي))[27].

حکومت غوښتل د شهید امام جنازه له روغتون څخه د هدیرې په لور یوړل شي، خو پلار یې له مسؤولینو څخه اجازه واخیسته، چې یوځل یې کورته یوسي، حکومت پدې شرط اجازه ورکړه، چې د جنازې په مراسمو کې به یې له پلار او ښځو څخه غیر نور څوک برخه نه اخلي.

هرڅوک چې به د شهید امام کورته نږدې کېدل، حکومت به هغه نیوه او بندي کاوه به یې، تر دې چې سبا د شهید امام له کوره په داسې حال کې جنازه ووتله، چې ښځې ورسره وې او له نارینه و څخه یې یوازې پلار و.

د امام شهید حسن البنا پلار د شپې تر یوې بجې نه و خبر، چې زوی یې شهید شوی. له یوې بجې وروسته د پولیسو مشر د شهید امام پلار ته د هغه د زوی د شهادت خبر ورولېږه. د شهید حسن البنا لور سنا وایي، چې پدې ورځ موږ ټول پدې پوهېدو، چې پلار مو شهید کېږي، کله چې مو پلار شهید شو، نیکه مې په ډېر صبر هغه ووینځه، بیا یې د هغه لپاره تابوت راوړ او د هغه شهید بدن یې پکې دننه کړ، کله چې خښولو ته تیار شو، نیکه مې پولیسانو ته وویلې، چې تاسو شهید هم کړ اوس یې جنازه پورته کړئ، هغوی وویلې، چې موږ د دې اجازه نه لرو، همدا وه، چې نیا مې پورته شوه او ویې ویلې، چې زه مې د زوی شهید پورته کوم. لدې سره د اخوات المسلمات ډېرې نورې ښځې هم راغلې او د هغه شهید جنازه یې په خپلو اوږو پورته کړه.

پدې کار سره یو ستر سیاسي جنایت ترسره شو، امام حسن البنا شهید شو، د ډیموکراسۍ او د بشر د حقوقو مدعیانو غربیانو فکر کاوه، چې له ده سره به د ده فکر هم مړ شي، خو دوی هېره کړې وه، چې د

---

[27] فاروق حضر بنفسه لیتاکد من وفات حسن البنا، موسوعه الاخوان المسلمین

شخص په وژلو سره فکر لمنځه نه ځي ! او د خداى غوښتنه هم بل څه وه، له امام حسن البنا څخه وروسته استاذ حسن الهضيبي د اخوان المسملين مشر شو او د خوان المسلمين د فکر شاګردان لا هم ډېر شول. دغه دعوت په ټوله نړۍ کې مريدان پيدا کړل. شهيد سيد قطب په وينا يو فکر هغه وخت ژوندى کېږي، چې د مفکر په وينو خړوب شي، شهيد حسن البنا هم خپل فکر په خپلو وينو خړوب کړ او ټولې نړۍ ته يې د قربانۍ لوى درس ورکړ. روح دې ښاد او فکر دې يې تر ابده ژوندى وي.

زه خپله دا ليکنه د علامه قرضاوي په هغه شعر، چې د امام شهيد حسن البنا په اړه يې ويلې او خپله شعري ټولګه يې پرې پيل کړې، پاى ته رسوم:

لكَ يا إمامِي يا أعزّ معلــمِ

يا حاملَ المصباحِ في الزمنِ العَمِي

يــا مرشدَ الدنيا لنَهجِ محمدِ

يا نفحةً من جيلِ دارِ الأرقـمِ

أهدِيـكَ نفسي في قصائدَ صُغْتُها

تَهدي وتَرجُم فهيَ أختُ الأنْجُمِ

حَسَبوك مِتّ وأنتَ حيٌّ خـالد

ما ماتَ غيرُ المستبدِّ المُجـرِمِ

حسبوكَ غِبتَ وأنتَ فينـا شاهد

نَجلُو بنهجِكَ كلّ دربٍ مُعتِمِ

شيّدتَ للإسلامِ صَرحًا لم تكُنْ

لَبِناتِهِ غيرُ الشبابِ المُسلـمِ

وكتبتَ للدنيـا وثيقةَ صحوةٍ

وأبَيْتَ إلا أن تُوقِعَ بالــدمِ

نمْ في جوارِ زعيمِكَ الهادي فمَا

شَيّدتَ يا "بَنّاءُ" لمْ يتهــدّمِ

سيظلُّ حبُّكَ في القلوبِ مُسطّرًا

وَسَناكَ في الألبابِ واسمُكَ في الفَمِ

# دریم څپرکی

# شهید استاذ سید قطب



وتلی مسلمان مفکر، لیکوال او ادیب شهید استاذ سید قطب په اسلامي نړۍ کې یو له هغو شخصیتونو څخه دی چې د هر معتدل او متشدد منهج لارویان یې ځان شاګردان او د ده د فکر تعقیبوونکي بولي. د شهید استاذ کتابونه په داسې طرز لیکل شوي چې هر لوستونکی ځانته جلبوي او له لوستو یې هرڅوک خوند اخیستلی شي.
په هغه وخت کې پرته لدې چې له سید قطب سره څوک پېژندګلوي ولري، د ده د لیکنو په لوستو به یې دی مرشد شو حتی تر دې چې د عراق د وخت جمهور رئیس عبدالسلام عارف چې د استاذ سید قطب في ظلال القرآن یې د زندان ملګری و، د شهید سید قطب لیکنې یې ډېرې خوښې شوې وې. په ۱۹۶۴ز کې یې له جمهور رئیس جمال عبدالناصر نه وغوښتل چې سید قطب له زندانه آزاد کړي او له سید نه یې وغوښتل چې له هغه سره عراق ته ولاړ شي او هلته یې د پوهنیزو چارو مشاور شي.

د سيد قطب ادبي او اسلامي ليکنې تر ننه پورې د ډېرو ځوانانو فکر جوړولو کې مهم رول لري حتى تردې چې د ډېرو معاصرو اسلامي حرکتونو مشران له هغه نه متاثر دي او هغه خپل فکري لارښود بولي.

في ظلال القرآن د شهيد سيدقطب هغه تفسير دی چې د معاصرو تفاسيرو په لومړي کتار کې ځای لري او له اسلام څخه د شهيد سيد قطب مفهوم ښه تعبيروي. په نوموړي تفسير کې شهيد سيد قطب ځينې داسې جملې ليکلي چې مستقيما په زړه کې ننوځي؛ مثلا شهيد سيد د في ظلال په مقدمه کې ليکنې: ((د قرآن تر سيوري لاندې ژوند تېرول، نعمت دی، داسې نعمت چې چا يې خوند نه وي ليدلی، نه يې پېژني. داسې نعمت چې عمر اوچتوي، برکت پکې اچوي او پاکوي يې))[28].

## زوکړه او نسب:

سيد قطب د ۱۹۰۶ز کال د نهمې مياشتې په لسمه نېټه د مصر د اسيوط ولايت په يوه کلي کې چې موشه نومېده، په مسلمانه، مېلمه دوسته او متوسط الحاله کورنۍ کې زېږېدلی دی. د هغه ځای خلک غنمرنګي خلک دي. په غيرت او ځوانمردۍ کې مشهور دي.

که څه هم د سيد قطب په اصل کې اختلاف دي. ځينې وايي چې مصري دي خو ډېري وايي چې د سيد قطب کورنۍ په اصل کې له هند نه ده، شپږم نيکه (عبدالله) يې له هند نه بيت الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر د زيارت لپاره پرې ايښې، بيا له هغه ځايه د مصر دغه ولايت ته تللی او هغه کلي کې مېشت شوی دی.

دوهم نظر استاذ ابو الحسن ندوي هم تائيدوي او وايي چې خپله سيد قطب ورته ويلي چې غواړي هند ته ولاړ شي، ځکه د دوی اصل له هند نه و. خو استاذ صلاح خالدي د استاذ محمد قطب له خولې را اخلي

---

[28] في ظلال القرآن، کمپيوټري بڼه کې

چې دا هسې ګومان دی او حقیقت نه لري. کومه خبره چې استاذ ابو الحسن ندوي لیکلې، د دې په اړه استاذ محمد قطب وایي چې هسې تهوکه ده.

استاذ صلاح الخالدي چې د ماستري رساله د شهید سید قطب په اړه لیکلې. دی وایي، زه د ابو الحسن ندوي خبره تائیدوم ځکه چې سید قطب هغه ته حتی د خپل نیکه نوم هم اخیستې نو لدې ښکاري چې دوي اصلا هندیان دي.

## کورنی او کورنی ژوند:

د سید قطب پلار الحاج قطب بن ابراهیم نومېده. سخي او متواضع انسان و او د خپلې کورنۍ مشر و. استاذ سید قطب د پلار په اړه وایي چې دومره سرمایه دار سړی نه و، خو د خلکو په وړاندې درونډ سړی و. هرچا به یې احترام کاوه، ځکه دی د خپلې کورنۍ مشر و او هغه هم د خپل د عزت د ساتنې لپاره ډېرې پیسې مصرفولې. د سید قطب پلار سره ډېر ناداره کسان اوسېدل، هغوی به ده ته د کور او زراعت کارونه کول او په مقابل کې به یې له ده څخه خپله نفقه، کالي او نور ضرورتونه اخیستل. دغه کسان په حقیقت کې د سید قطب د پلار خادمان و، خو هغه نه خوښوله چې دوی ورته (سیدي) ووایي. هغه خوښوله چې کشران ورته حاجي کاکا او مشران ورته حاجي ووایي.

استاذ سید قطب وایي په کلي کې داسې رواج و چې کارګرانو ته به د کور ښځېنتن د خپل خوراک نه ضعیف خوراک ورکاوه، خو د ده پلار دا کار نه خوښاوه او ویل به یې چې څه چې په کور کې خوړل کېږي باید کارګرو ته هم ورکړل شي، داسې نه چې د دوی او د کور په خوړو کې فرق وي. سید وایي چې پلار مې جواد سړی و، خپلو مزدورانو ته به یې تر نورو ډېرې پیسې او ښه طعام ورکاوه.

سید قطب وایي چې زموږ په کور کې د قرآن ختم حتمي و. په کال کې به څلور پینځه وارې د قرآن ختم کېده. د عاشورا په ورځ، په اخترونو او

داسې نورو مراسمو کې به د قرآن ختم کېده او د ختم په پای کې به مې پلار قاريانو ته ترټولو ښه ډوډۍ ورکوله[29].

شهيد سيد قطب د خپل پلار او کورنۍ په اړه په خپل کتاب کې وايي، چې د هغه له وفاته وروسته دا مشري سيد قطب ته پاتې شوه. مور يې په دين مينه او متقي ښځه وه، له پخوا په قاهرې کې اوسېدلې وه او دوه ورونه يې په ازهر شريف کې استاذان وو. د مور ځانګړنه يې دا وه چې له قرآن سره يې ډېره مينه وه او تل به يې قرآن ته غوږ نيوه[30]، د دې لپاره چې سيد قطب قرآن زده کړي جومات ته يې لېږه څو هغه يې زده کړي او بيا يې د ښته ولولي. د سيد قطب مور په ۱۹۴۰ز کې د موشې په کلي کې وفات شوه.

سيد قطب درې خوېندې او يو ورور لاره، خوېندې يې؛ نفيسه قطب، امينه قطب او حميده قطب نومېدې او کشر ورو يې محمد قطب نومېده. دا ټوله کورنۍ مجاهده او د اسلام خدمتګاره کورنۍ وه او ټولو د اسلام لپاره د زندان په تيارو کې ډېرې شپې سبا کړي دي.

نفسيه قطب د دوه نورو خوېندو په څېر ادبي فعاليتونو کې برخه نه لرله. د نفيسې يو ځوي (رفعت بکر شافع) نومېده او د قاهرې په پوهنتون کې د انجينيرۍ د پوهنځي محصل و. دی په شهيد سيد قطب ډېر ګران و چې د جمال عبدالناصر په زندان کې په ۱۹۶۵ز کې په شهادت ورسېد. سره د دې چې د نفيسې عمر له ۶۵ کلونو ډېر و، بيا هم جمال عبدالناصر زنداني کړې وه، کله چې يې زوی په شهادت ورسېد، دا هم له زندانه آزاده شوه.

امينه قطب چې له سيد قطب نه کشره وه، په ادب کې برلاسې وه. د (الاطياف الاربعه) په ليکلو کې يې له سيد قطب سره همکاري کړې وه. دوه د کيسو ټولګې لري. يوه يې (في تيار الحياه) نومېږي او هديه يې

[29] الطفل من القريه، کمپيوټري ښه کې

[30] الطفل من القريه، کمپيوټري ښه کې

شهید سید قطب او استاذ محمد قطب ته کړې. د کیسو دوهمه ټولګه یې (في الطريق) نومېږي.

استاذ کمال النسانیري په ۱۹۵۴ز کال کې له امینې څخه غوښتي و چې ورسره واده وکړي. هغې هم منلې وه، خو کله چې استاذ سنانیري مخکې له نکاح نه بندي شو، امینې ته یې وویل چې ته کولی شې له بل چا سره واده وکړې. خو امینې له هېچا سره هم واده ونکړ او د شهید سنانیري په نامه کېناسته. کله چې استاذ سنانیري له بند نه خلاص شو، په ۱۹۷۳ز کې یې له امینې سره واده وکړ، مګر په هغه وخت کې د امینې عمر له ۵۰ ډېر و، هېڅ اولاد یې ونه شو. استاذ سنانیري یو وار بیا زنداني شو او په ۱۹۸۱ز کې شهید کړل شو.

استاذ محمد قطب له سید قطب څخه دیارلس کاله کشر و. په قاهره کې یې د ادبیاتو په پوهنځۍ کې داخله اخیستې وه. غوښتل یې عربي ادب ووايي خو سید قطب ورته وویل چې د انګلیسي ادب ووايې. د انګلیسي له ادب نه د فارغېدو وروسته یې د ښوونې او روزنې په وزارت کې داخله واخیسته. محمد قطب هم د خپلو خوېندو او ورور په څېر څو واري زنداني شوی، په زندان کې له ډېر تعذیب نه داسې ګومان هم شوی چې مړ شوی به وي خو خدای ډېر عمر ورکړی و. محمد هم مشهور لیکوال دی، ډېر کتابونه یې لیکلي، ډېر مشهور کتاب یې (جاهلیه القرن العشرین) نومېږي. محمد قطب د (سخریات صغیره) کتاب خپل استاذ او مشر ورور سید قطب ته اهدا کړې، محمد د هدیې په یوه برخه کې لیکي:((هغه ورور ته چې ماته یې لیکل او لوستل راوښودل، هغه ماته پلار، ورور او ملګري و)).

حمیده قطب د سید قطب ترټولو کشره خور ده. حمیده هم لیکواله وه. عموما به یې د (المسلمون) او (اخوان المسلمون) په مجله کې لیکنې کولې. د ظالم حاکم له لورې پرې لس کاله بند حکم اورول شوی و چې شپږ کاله یې زندان کې تېر کړل. حمیدې به له زندان نه د سید قطب

پيغامونه اخوان المسلمين ته رسول او د زينب الغزالي له همکارانو څخه وه.

## ماشومتوب او زده کړې:

د سيد قطب د ماشومتوب د دورې له تېرولو وروسته يې مور او پلار وغوښتل سيد مکتب ته ولېږي. په کال **۱۹۱۲** ز کې يې مکتب ته واستاوه. د ابتدايي دورې په دوهم کال کې د سيد کورنۍ د نورو په مشورې وغوښتل سيد باندې د قرآن حفظ هم شروع کړي همدا وه چې د قرآن حافظ ته يې کېناوه او د ابتدايي زده کړې په څلورم کال يعنې په لس کلنۍ کې سيد قرآن مکمل حفظ کړ.

سيد قطب د قرآن د حفظ په اړه خپل د ژوند کتاب (طفل من القريه) کې ليکي چې هره شپه به تر ډېره کېناستم او قرآن به مې له ځان سره تکراراوه. سيد وايي چې په يوه کال کې مې درې برخې قرآن ښه حفظ کړی و.

سيد قطب په ماشومتوب کې د مشرانو پېښې کولې. هغه به تل په جومات کې له خپل پلار سره لمونځ ادا کاوه. د شپې تر لسو بجو به له مشرانو سره ناست و. د شپې به په کلي کې ګرځېده. کله چې به په جومات کې درس ورکول کېده، سيد به حتما درس ته کېناسته او کله نا کله به يې له ښېخانو سره نحوي موضوعات هم څېړل. د سيد قطب دغه جرئت ډېر خلک ورته حيران کړي وو.

په ماشومتوب کې سيد د کتابونو له لوستو سره ډېره مينه لرله او تل به يې د کلي له کتاب پلورنځي نه کتابونه اخيستل تر دې چې په کلي کې په کتاب اخيستلو مشهور شوی و. په هماغه وخت کې يې ځانته وړه د **۲۵** کتابونو لرونکې کتابخانه جوړه کړې وه.

د قرآن د حفظ ترڅنګ سيد وکولی شو ابتدايي ښوونځی په کال ۱۹۱۸ز کې وروسته له شپږ کاله درس ويلو په برياليتوب سره پای ته

ورسوي. سید دغه وخت کې دیارلس کلن و، دا چې پلار مرحوم یې الحزب الوطني ګوند غړی و، (نوموړی ګوند ملي او اسلامي ګوند و) هغه ته به تل سیاسي خلک راتلل او په مختلفو سیاسي او اجتماعي مسائلو به ورسره غږېدل. سید هم په دغو غونډو کې کېناسته چې د ده په ژوند او شخصیت جوړونه کې یې مهمه اغېزه لرله.

د ۱۹۱۹ز انقلاب په اساس د سید قطب زده کړې دوه کاله وځنډېدې، لدې وروسته په کال ۱۹۲۰ ز کې قاهرې ته ولاړ، په کال ۱۹۲۲ ز کې دار المعلمین کې داخل شو. دغه مدرسه عبدالعزیز نومېده چې پدې کې به له ۱۵ کالو نه د ډېر عمر لرونکي هلکان داخلېدل بیا لدې وروسته د دار العلوم تجهیزي ځانګې کې په کال ۱۹۲۵ز کې داخله واخیسته، په ۱۹۲۹ز کې دار العلوم کې داخل شو او په کال ۱۹۳۳ز کې یې د عربي په اداب کې د لېسانس مرحله پای ته ورسوله.

د سید پلار په کلي کې وفات شو. کورنۍ یې قاهرې ته راوسته او مور یې هم په ناڅاپي ډول وفات شوه. د دوی وفات سید ډېر غمجن کړ او ویل کېږي چې له همدې وخت نه په مختلفو ناروغیو لکه د معدې او داسې نورو ناروغیو اخته شو. د مور او پلار له وفاته وروسته سید له خپل ورور او خوېندو سره په قاهره کې وسېده.

کله چې سید قطب دار العلوم کې و، په هغه وخت کې وتلی عرب ادیب طه حسین د دار العلوم رئیس و. د تحصیل په درېیم کال کې په پوهنتون کې یوه غونډه جوړه شوه چې سید قطب پکې یوه مقاله د (مهمه الشاعر فی الحیاة) په نامه ولوسته او ټول خلک یې وینا او جرئت ته حیران کړل. د سید په اړه ویل کېږي چې باجرئته ځوان و او پرته له کوم زړه نا زړه توبه یې نیوکه کوله. د ده استاذ محمد مهدي علام د سید په اړه وایي چې د ده جرئت ټولو خلکو خوښاوه.

سید قطب په دغه وخت کې د دار العلوم په نامه ګوند کې غړی شو، دا ګوند د دار العلوم د محصلینو ګوند و چې هدف یې د عربي له ادب نه دفاع کول و او د دار العلوم په نامه یې یوه خپرونه هم لرله.

## ليکوالي او ادب:

کله چې سید له دار العلوم نه فارغ شو ، لومړی مقاله یې په شپاړس کلنۍ کې د البلاغ په مجله کې خپره شوه او د مصر له مختلفو ورځپاڼو او مجلو سره لکه الاهرام، الرسالة، الاسبوع، الشرق الجدید ، العالم العربي او داسې نورو سره یې قلمي همکاري


ادیب سید قطب

کوله. په کال **۱۹۳۳**ز کې د مصر د ښوونې او روزنې د وزارت له لورې د داوودیې ښوونځي ته د ابتدایي دورې د ښوونکي په صفت ولېږل شو ، په دغه وخت کې سید قطب مختلفو ځایونو لکه دمیاط او بني سویف ته د تدریس لپاره ولاړ او مختلفو ښوونځیو کې ښوونکی پاتې شو. وروسته له شپږ کاله استاذۍ په کال **۱۹۴۰**ز کې د مصر د ښوونې او روزنې وزارت کې د مامور په صفت وټاکل شو او تر **۱۹۴۸**ز پورې په یاد وزارت کې په مختلفو مناصبو کې په دنده بوخت و.

کله چې استاذ سید قطب پلازمېنې قاهرې ته راغی د احمد حسین عثمان په واسطه له وتلي ادیب او مسلمان لیکوال عباس محمود العقاد سره آشنا شو او د هغه د ادبي او علمي شخصیت نه متاثر شو. په **۱۹۴۵**ز کې یې خپل لومړی کتاب (التصویر الفني فی القرآن) ولیکه او خپلې مرحومې مور ته یې ډالۍ کړ.

سید قطب له (اللواء الجدید ) مجلې سره قلمي همکاري کوله، لدې وروسته یې د (الدعوة) مجلې ته لیکنې کولې او همدارنګه د دې

مجلې د تحریر رئیس هم و. په کال **۱۹۴۸**ز کې یې د (الفکر الجدید) مجله د ځو نورو با احساسه ځوانانو په مرسته تاسیس کړ، الفکر الجدید انقلابي مجله وه چې په حکومت کې یې اصلاحات غوښتل.

سید قطب په خپل **۲۵**کلن مطبوعاتي ژوند کې **۴۵۵** مقالې او شعرونه په مختلفو مجلو او ورځپاڼو کې خپاره کړي. فی ظلال یې مشهور تفسیر دی چې په اتو جلدو کې لیکل شوی او نور کتابونه یې دا دي:

ادبي لیکنې

- طفل من القریة (ژوند لیک).
- أشواک
- المدینة المسحورة
- النقد الأدبي –أصوله و مناهجه.
- التصویر الفني في القرآن.
- مشاهد القیامة في القرآن.
- کتب و شخصیات.
- مهمة الشاعر في الحیاة.
-

اسلامي لیکنې

- معالم في الطریق.
- هذا الدین.
- المستقبل لهذا الدین.
- في ظلال القرآن (اتو جلدو کې د قرآن تفسیر).
- العدالة الاجتماعیة.
- الإسلام والسلام العالمي.
- في التاریخ فکرة و منهاج.

- لماذا أعدموني؟(د مقالو مجموعه چې په لندن کې د اخوان المسلمين مجلې خپاره کړي او د سيد قطب په لاس ليکل شوي)
- دراسات إسلامية(د مقالو مجموعه).
- السلام العالمي والإسلام.
- خصائص التصور الإسلامي ومقوماته.
- امريكا من الداخل بمنظار سيد قطب(په امريکې کې ليکل شوې مقالې، ټولونه او ترتيب: د/صلاح الخالدي).
- معركة الإسلام والراس مالية.
- قصص الانبياء
- الإسلام ومشكلات الحضارة.

له مشهورو کتابونو او مجلو څخه يې مقالې د کتاب په شکل

- سيناء بين اطماع الاستعماريين والصهيونيين، بالشتراک مع حسن البنا وكامل الشريف.
- الجهاد في سبيل الله، له حسن البنا او مودودي سره.
- معركتنا مع اليهود.
- في التاريخ فكرة ومنهاج.
- تصورات إسلامية (د کتاب په شکل د مقالو مجموعه).
- مفترق الطرق.
- قيمة الفضيلة بين الفرد والجماعة.

له في ظلال نه اخيستل شوي کتابونه

- تفسير آيات الربا.
- تفسير سورة الشورى.
- طريق الدعوة.
- فقه الدعوة.
- قصة الدعوة.

- رسالة الصلاة.
- إسلام أو لا إسلام.
- إلى المتثاقلين في الجهاد.

مقالې

- كيف وقعت مراكش تحت الحماية الفرنسية؟
- قيمة الفضيلة بين الفرد والجماعة.
- الدلالة النفسية للألفاظ والتراكيب العربية.
- هل نحن متحضرون؟
- وظيفة الفن والصحافة.
- شيلوك فلسطين أو قضية فلسطين.
- أين أنت يا مصطفى كامل؟
- فلنعتمد على أنفسنا.
- ضريبة الذل.
- أين الطريق؟.

**د سید قطب همت**:

استاذ صلاح خالدي وايي چې مکه کې د استاذ احمد عبدالغفور عطار کور ته ورغلم. هغه راته د سید قطب څه عجیبې کیسې وکړې، د سید قطب د سخا په اړه یې هم وویلي. عطار وايي چې د سید قطب کور ته به ډېر کله ورتلم. د ملاقات کوټه یې ساده وه، ځکه د سید قطب اقتصادي وضع ښه نه وه. استاذ عطار وايي چې د سید قطب کور کې مې یوه ورځ ښکلي لوښي ولیدل چې په لیدو یې خوښ شوم. دی وايي، بیا چې ورغلم هغه لوښی نه و ایښی، د هغه پر ځای زاړه لوښي ایښي وو، تربنه مې پوښتنه وکړه چې ها لوښی څه شو. سید ورته ویلي وو چې د ملګري واده یې و، دا یې ورته خرڅ کړي و چې ورسره مرسته وکړي!.

استاذ عطار د سید قطب بله حیرانوونکې کیسه کوي. دی وایي: ((یوه ورځ سید قطب راسره تلیفوني اړیکه ونیوه او راڅخه یې وغوښتل چې ورشم او څو جنیهه ورته قرض هم له ځان سره وروړم، ځکه هغه ناروغ و او د دواء پیسې ورسره نه وې !.

زه ژر کورته ورغلم او پیسې راسره وې. د ملاقات کوټې ته دننه شوم او حیرانوونکې حادثه مې ولیده، قسم خورم چې په لیدو یې ډېر حیران شوم.

په کوټه کې ورسره د یو پطرولي عربي هېواد ډیپلومات ناست و او څنګ ته یې له پیسو ډکه بکسه ایښې وه، چې مختلفې پیسې پکې وې.

ډیپلومات له سید قطب نه په ډېر حرارت غوښتل چې پیسې واخلي او دا د هغه لپاره د هېواد له لورې ډالۍ ده، ځکه دوی د هغه کور او له مسؤولیتونو خبر دي. دا پیسې دې په ادبي فعالیتونو او په خپلو اړتیاو ولګوي. په دغه وخت کې سید قطب غوښتل یوه ادبي مجله خپره کړي، ښایي هغه مجله به (عالم العربي) یا (فکر الجدید ) وي.

سید قطب ته مې وکتلې، هغه خفه او ناروغ و. د ډیپلومات ډالۍ یې په شدت ورکړه او په غصه شو، هغه ته یې وویل: ځان او خپل فکر د دنیا په مالونو نه خرڅوم، پیسې دې په خپله بکسه کې واچوه.

بیا سید قطب ما ته راوکتلې او ویې ویل: څه چې مې درنه غوښتي وو، حاضر کړي دې دي؟ ما وویل هو، پیسې مې ورکړې او ډېر حیران وم.

کله چې ډیپلومات د پیسو په کیسه پوه شو، چې سید فقیر دی او د ناروغۍ د علاج لپاره هم ورسره پیسې نه شته، لدې سره یې هم د ده پیسې ونه منلې، په ډېره حیرانتیا له کوره ووت ))[31].

---

[31]سید قطب من المیلاد الي الاستشهاد، صفحه ٤٩٤-٤٩٥

**امریکې ته سفر**:

څرنګه چې سید قطب په خپلو لیکنو کې د مصر په حکومت کې اصلاحات غوښتل او حکومت لدې کار نه خوښ نه و، د مصر حکومت وغوښتل سید قطب د درسي سیستم د لیدو په بهانه امریکا ته واستوي څو له یوې لورې حکومت د ده له نیوکو او لیکنو بې غمه شي او بله دا چې سید قطب له غرب نه متاثر شي او غربي افکار خپل کړي، خو داسې ونه شوه، مګر د دې بالعکس سید قطب د امریکې له لیدو وروسته لاهم انقلابي شو او همدا سفر یې له اسلامي حرکت سره یې د اړیکو نیولو باعث شو.

امریکې ته د سید قطب دغه دوه کلن سفر په ۱۹۴۸ز کال پیل شو، سید قطب د اسکندریې له بندر نه په کشتۍ کې نیویارک ته ولاړ. استاذ سید قطب وایي کښتۍ کې مې له ځان سره فکر کاوه چې زه به هم د نورو په څېر ځم، خپل کار، خوب او خوراک به کوم او که نه له دوی سره به توپیر لرم، توپیر پدې کې چې د شهوت له غلط استعمالولو به ځان ساتم او د اسلام آدابو ته به ملتزم اوسم. سید قطب وایي هلته مې وویل چې زه به دوهمه ډله کې ځان راولم. دا د خدای امتحان دی.

کله چې سید قطب خپل ځای ته ورسېد، وایي یوه ښایسته نجلۍ، چې نیمه بربنډه کالي یې اغوستي وو راغله او راته یې په انګلیسي وویل: اجازه راکوې چې نن شپه ستا مېلمه شم. ما ښننه وغوښته او ومې ویل چې په کوټه کې یو کټ دی او دا د یو کس لپاره دی. هغې وویل: ډېر کله په یوه کټ کې دوه کسه هم ځایېږي، زه د دې سپین سترګۍ ته حیران شوم، دې کوښښ کاوه چې دننه شي، ما د کوټې ور په شدت پورې کړ.

امریکې کې د سید قطب اقامت د ده په ژوند کې لوی تغیرات راوستل. شهید سید قطب وایي چې د فبرورۍ په دریېمه ۱۹۴۹ز کال کې د امریکا په یو روغتون کې پروت وم، لیدل مې چې رنګارنګ موسیقي، غربي ګډاګانې او خوښۍ وې، ما له چانه پوښتنه وکړه چې څه خبره ده

کوم اختر لمانځئ؟ راته يې وويل: نن په شرق کې د نصرانيت لوی دښمن ووژل شوی دی، نن حسن البنا ووژل شو ، دغې حادثې ماته ټکان راکړ چې د حسن البنا د وژل کېدو جشن او خوښي په امريکې کې لمانځل کېږي ! ! حتما هغه يو مخلص داعي و او زه بايد له دغې ډلې سره يو ځای شم.

بله حادثه چې شهيد سيد قطب په امريکې ورسره مخ شوی و ، هغه په امريکا کې د برتانيې د استخباراتو د رئيس په کور کې و ، استاذ سيد قطب د دې په اړه وايي: ((دوه ټکو زما توجه جلبه کړه، يو دا چې برتانوي خپلو زامنو باندې د مسلمانانو د زامنو نومونه ايښي و ، لکه محمد ، علي او احمد او بله دا چې زما د ټولنيز عدالت کتاب مې له هغه سره وليد چې په امريکې کې زما دوهم کتاب و ، يو يې زما ورور محمد قطب ماته رالېږلی و او بل مې له ده سره وليد چې په ژباړه يې بوخت و. خبرې د شرق له حالاتو پيل شوې او په اخوان المسلمين او د دوی په فعاليتونو مو اوږدې خبرې سره وکړې. برتانوي ماته د اخوان المسلمين په اړه وويل: (کله چې اخوان المسلمين حکومت په خپل لاس کې ونيسي، هېڅکله به مصر پرمختګ ونه کړي او دوی به په خپلو زړو افکارو د مصر د پرمختګ او هلته د غربي تمدن مانع شي. بيا يې وويلې: موږ ستاسو په څېر پوهو ځوانانو نه د دې توقع لرو چې د هغوی قدرت ته د رسېدو مانع وګرځئ) دې وخت کې زه يقيني شوم چې اخوان المسلمين په حقه روان دی او نور ماته له هغوی سره د نه يوځای کېدو بهانه پاتې نه وه، سيد وايي چې د هماغه برتانوي په کور کې وم دا تصميم مې ونيو چې مصر ته چې ولاړم له دغه ګوند سره به يوځای کېږم ))[32].

د سيد قطب ټولنيز عدالت کتاب په ۱۹۴۹ز کې په مصر کې خپور شو ، د هغه کتاب هديه داسې ليکل شوې وه، چې اخوان المسلمين پوه شول دا کتاب هغوی ته ډالۍ شوی دی، همدا وه چې د سيد قطب د راتلو پر

[32] عملاق الفكر الاسلامي، ليكوال: شهيد عبدالله عزام

مهال اخوان المسلمین ځینې کسان لکه استاذ عباس سیسي د هغه د استقبال لپاره د اسکندریې بندر ته ولېږل، څو دوی هم له ده سره خپله مینه ښکاره کړي او اړیکې له همدې ځایه پیلې شي.

د اسلامي نړۍ سترګور او حقپاله عالم علامه ابو زهره د سید قطب د شهادت پر مهال په کویت کې په یوه ندوه کې وویلې: ((زما زوی سید قطب مې له امریکا نه د راتلو پر مهال استقبال کړ او پوښتنه مې ترې وکړه: اوس څنګه یې سیده؟ ځواب یې راکړ: زما استاذه امریکا ته چې تلم مسلمان وم او چې راځم مؤمن یم))[33].

کله چې استاذ سید قطب له امریکې څخه مصر ته راغی، خلکو ته د امریکې د حقیقي مخ د ښکاره کولو لپاره یې یو کتاب د (امریکا التي رایت) په نامه ولیکه، خو متاسفانه دا کتاب ضایع شو. بیا په همدغه نوم ځینو خپرندویه ټولنو د شهید سید قطب ځینې مقالې راټولې او کتابي شکل یې ورکړ.

په هغه وخت کې امریکا په نړۍ کې عموما اسلامي هېوادونو کې خصوصا د سولې خوښوونکو خلکو په نامه پېژندل شوي وو. شهید سید قطب د هغوی له مخ نه پرده پورته کړه او د هغوی ریښتیني شکلونه یې ښکاره کړل. استاذ سید قطب د (د امریکې د سولې خوښولو خرافات) تر سرلیک لاندې لیکي: ((د امریکایانو جمهور جنګ خوښوي، نه پوهېږم څنګه امریکایان په خلکو کې (خصوصا په شرق کې) په سوله خوښوونکو خلکو مشهور شوي دي په داسې حال کې چې دا محض خرافات دي)). سید قطب د (امریکایي انسان او د جګړې مینه) تر سرلیک لاندې لیکي: ((امریکایي انسان فطرتا جنګي دی او جګړه خوښوي، د جګړې فکر د دوی په وینه کې داخل شوی دب. دا هغه څه دي چې د دوی له تاریخ سره اړخ لګوي. کله چې خلک له خپلو هېوادونو د امریکې پر لور تلل د جګړې او استعمار فکر ورسره و. هلته ځینو، ځینې نور ووژل، افرادو او ټولګیو جګړې کولې)).

---

[33] من اعلام الدعوه و الحرکه الاسلامیه، صفحه۷۷۶

شهيد سيد قطب د (په امريکا کې د غلامانو د آزادۍ اصلي لامل) تر سرليک لاندې ليکي: ((بيا شمال له جنوب سره د ابراهام لنکولن تر مشرۍ لاندې جګړه پيل کړه او د غلامانو د آزادۍ نوم يې ورکړ، په داسې حال کې چې د دې اصلي لامل اقتصادي ګټې وې. داسې چې افريقايي غلامانو د شمال په يخه هوا کې کار نه شو کولی، همدا وه چې جنوب ته يې مخه کړه. په جنوب کې غلامان د شمال په نسبت ډېر ارزانه وو او شمال کې به يې په اوچتو پيسو کار کاوه، همدا وه چې د شمال خلکو د غلام د آزادۍ په نامه جګړه شروع کړه)). سيد قطب وايي چې امريکايان جنګي خلک دي او له جګړې سره يې ډېره مينه ده، دی وايي لرې نه ده چې امريکايان دريمه نړيواله جګړه پيل کړي!

شهيد سيد قطب د امريکايي وحشت او له تهذيب نه د لرېوالي يوه جالبه کيسه ليکي: (( په امريکې کې د مصري بعثې مشر له خپلې مېرمن سره په يوه غونډه کې مېلمه و. د بعثې مشر د خپلې مېرمن د نه راتلو عذر وړاندې کړ. مګر بلونکو ورته ځواب کې وويلې چې د ښځې ارتيا نشته، کولی شي يواځې ورشي، دا ښه فرصت دی، د يوې ښځې مېړه له غونډې مخکې ناڅاپي مړ شوی، نو هغه به يواځې وه، دا به ځومره ښه شي چې تاسو دواړه هلته ملګرتيا وکړئ)). سيد قطب د امريکايانو د وحشت په اړه د بېته ورته په سلګونو کيسې ليکي.

## اخواني سيد قطب:

استاذ سيد قطب د يوه کتاب ډالۍ کول د اړيکو لپاره کافي ونه بلله. په ۱۹۵۱ز کې يې له اخوان المسلمين سره د نږدېوالي لړۍ لا هم ګړندۍ کړه او د اخوان المسلمين په (الدعوه) مجله کې يې ليکنې کولې. استاذ سيد قطب مصر ته له راتلو سره د اخوان المسلمين د وخت مرشد العام حسن الهضيبي سره اړيکه ونيوه او ورته يې وويل چې ما هم د اسلام د لارې يو خدمتګار وبله، استاذ حسن الهضيبي هم ورته ښه راغلاست وويلې.

کله چې استاذ سید قطب له اخوان المسلمین سره یوځای شو د حکومت له رسمي دندې څخه یې په ۱۹۵۲ز کې استعفا وړاندې کړه، دوه کاله د مصر حکومت له نوموړې استعفا سره مخالفت کاوه او ویې نه منله، بالاخره په ۱۹۵۴ز کې یې استعفا ومنله.

استاذ سید قطب په کال ۱۹۵۲ز کې د اخوان المسلمین په مکتب الارشاد کې غړی شو او همدارنګه د دغه خوځښت د عمومي مرکز د دعوت او نشریاتو د څانګې مشري هم وروسپارل شوه. استاذ سید قطب د اخوان المسلمین په اړه وایي: ((د اخوان المسلمین دعوت له تعصب نه لرې دعوت او بلنه ده، څوک چې له دغه دعوت سره مقاومت کوي، هغوی متعصبین دي او یا هغه جاهلان دي چې نه پوهېږي څه وایي)).

په ۱۹۵۴ز کې د اخوان المسلمین خوځښت یوه اوونیزه د اخوان المسلمین په نامه د رمضان په اوولسمه ۱۳۷۳ قمري کال تاسیس کړه او سید قطب یې د هغې مجلې د هیئت تحریر رئیس په توګه انتخاب کړ. په دغه مجله د پنجشنبې په ورځ خپرېده او پدې کې سید قطب خپل افکار په ازاد ډول خپرول، چې دا مجله د ذی الحجې په شپږمه ۱۳۷۳ قمري کال وروسته لدې چې شپږ ګڼې خپره شوه، د حکومت له لورې مصادره او بنده شوه.

## نوي اخواني تنظیم کې د سید قطب رهبري:

کله چې حکومت په ۱۹۵۴ز کې د اخوان المسلمین تنظیم منحل اعلان کړ، کشران او مشران یې زندانو ته وغورځول، ځینې مخلص اخوانیان د دې په فکر کې شول چې پټې(مخفي) غونډې وکړي او اخوان المسلمین بېرته مخفي جوړ کړي. د دې لپاره ډېرې ناکامې هڅې وشوې، چې استاذ حسن الهضیبي سره مشهوره هم پکې نه وه شوې.

ځینو نور اخوانیان پدې فکر کې وو چې بیا تنظیم جوړول فایده نه لري. دا تنظیم ډېر ژر د حکومت له لورې کشف کېږي او د همدې لپاره په

زندانو کې په اخوانیانو فشارونه زیاتیږي، نو ښه به همدا وي چې جماعت د سکون په حالت کې پرېږدو.

خو ډېر ورونه پدې نظر و چې که سري(مخفي ) تنظیم جوړ شي، ښه به وي. محمد یوسف هواش په ۱۹۵۴ز کې مخفي تنظیم جوړ کړ، خو دا وړوکی تنظیم ډېر ژر د حکومت له لورې بند شو.

دا ډول نورو هم هڅې وکړې خو ټولو کې د عبدالفتاح اسماعیل کار ترټولو بریالی و. عبدالفتاح اسماعیل په اخوان المسلمین کې له فعالو کسانو څخه و. په ۱۹۴۵ز کې زنداني شو، په ۱۹۵۶ز کې له زندانه خلاص شو. په دغه وخت کې دی د نوي تنظیم جوړولو په فکر کې شو.

زینب الغزالي وایي چې شیخ محمد الغزالي عبدالفتاح اسماعیل ورپېژندلی او په حج کې یې له عبدالفتاح سره د نوي اخواني تنظیم جوړولو مشوره کړې. زینب الغزالي وایي چې لدې اتفاق وروسته مې له مرشد العام حسن الهضیبي سره هم وکتل او د هغه موافقه مې هم واخیسته.

عبدالفتاح اسماعیل هم له مرشد العام سره کتلي و، که څه هم مرشد العام ته ځینې کسان ورغلي و او د عبدالفتاح اسماعیل مخالفت یې کاوه، خو بیا هم هغه حسن الهضیبي پدې قانع کړی و چې دا نوی تنظیم به ګټور وي.

د نوي تنظیم غړي د رهبر په فکر کې شول، ځکه دوی ځوانان وو. دوی غوښتل چې رهبر باید تجربه او ډېر عمر ولري. وروسته له اوږده فکر او له ځینو سره له ملاقاتو نه، دې نتیجې ته ورسېدل چې استاذ سید قطب باید د دوی رهبر شي، همدا وه چې هغه ته یې خپله هیله وررورسوله، سید قطب هم دا غوښتنه ومنله. لدې وروسته به سید قطب له زندان نه د نوي تنظیم غړو ته د في ظلال او معالم في الطریق لیکنې وراستولې چې ویې لولي.

ځيني خلک پدې فکر دي چې نوی اخواني تنظيم د سيد قطب نوی فکر و او په دغه ډول افکارو کې مرشد العام سره دوی نه کومه مشوره کړې وه او نه هغه ورسره موافق و، خو زينب الغزالي دا حقيقت ښکاره کړ چې د سيد قطب مشري د مرشد العام په مشوره شوې وه او د سيد قطب معالم في الطريق کتاب مرشد العام لوستی و، وروسته له څو وار مطالعې هغه د کتاب په اړه خپلې ښې هيلې ښکاره کړې وې او ويلي يې و چې سيد قطب ته هيله من يم. زينب الغزالي وايي چې مرشد العالم امر کړی و چې معالم في الطريق کتاب چاپ او خپور کړي.

کله چې استاذ سيد قطب په ۱۹۶۴ز کې له زندان نه خارج شو، هغوی (عبدالفتاح اسماعيل او ملګرو يې) ترېنه غوښتي و چې د تنظيم مشري وکړي خو سيد وايي چې ما دا ومنله چې روحي مشر به وم، خو د مرض له امله مې رهبري رد کړه او ومې ويل چې تاسو بايد مشران شئ، څو تجربه لاسته راوړئ. زما وظيفه به دا وي چې د دغو ځوانانو عقلي تکوين لپاره کار وکړم.

سيد قطب ډېر کار ته پاتې نه شو، ډېره لږه موده وروسته په ۱۹۶۵ بيا زندان ته وغورځول شو، نور سيد قطب له زندانه ژوندی ونه ووت تردې چې د ظالم حاکم له لورې اعدام شو.

## **زندان او شهادت**:

په ۱۹۵۴ز کال کې د المنشيه په سيمه کې د وخت جمهور رئيس جمال عبدالناصر د وژل کېدو له حملې ژوندې ووت، لدې وروسته جمال عبدالناصر اخوان المسلمين پدې متهم کړل چې دوی دا کارونه سرته رسوي، د اخوان المسلمين د ځوانانو او مشرانو نيول يې پيل کړل.

سيد قطب د منشيې د حادثې په اړه وايي چې، په ۱۹۵۱ز کال کې دوکتور احمد حسين د ټولنيزو چارو وزير د وزيرانو په وفد کې امريکا ته سفر وکړ. له سفره وروسته هغه له وزارت نه استعفا ورکړه. سره د دې چې نحاس پاشا ډېر د هغه له استعفی سره مخالفت کاوه، خو

هغه بیا هم په خپله خبره ولاړ و. احمد حسین یو ګوند جوړ کړ، چې په دغه ګوند کې ډېر مشران کسان له هغه سره شول. سید قطب وايي چې له دغه ګوند سره د امریکا مرسته او ملاتړ و او دوی په منطقه کې د امریکايي منافعو لپاره کار کاوه. سید زیاتوي چې د دغه ګوند اصلي دنده دا وه چې د انقلاب د غړو او اخوان المسلمین ترمنځ اختلاف رامنځته کړي. دی وايي چې په هغه وخت کې زه د انقلاب له کسانو سره ډېر نږدې وم، دا حقیقت مې په سترګو لیده او هڅه مې کوله چې انقلابیان له دغې موضوع نه خبر کړم. سید وايي چې جمال ناصر ته مې وویل خو زه پدې هڅه کې ناکام شوم[34].

شهید سید قطب وايي چې د المنشیې حادثه یوه ډرامه وه چې د صلیبیانو او صهیونستانو له لورې جوړه شوې وه، څو د جمال عبد الناصر او اخوان المسلمین په منځ کې جګړه پیله کړي او دوی په خپل هدف کې بریالي شول[35].

سید قطب هم د هغو سلګونو کسانو له جملې نه و چې جمال عبدالناصر د ۱۹۵۴ز په جنوري کې بندیان کړي وو، سید قطب په زندان کې ډېر تعذیب شوي وو، د ۱۹۵۴ز په جولای کې سید قطب د سخت مرض له امله له زندانه ووېستل شو.

---

[34] چرا اعدامم کردند، صفحه۲۱-۲٤
[35] هماغه مصدر



سید قطب او یوسف هواش د محکمې پر لور

او په محکمه کې پرې پينځلس کاله زندان حکم واوراوه او لدې سره په زندان کې سخت تعذيبونه هم پرې وو، په دغه وخت کې د اخوان المسلمين اوسنی مرشد العام دوکتور محمد بديع هم ورسره زنداني و. دی سيد قطب ته ډېر نږدې پاتې شوی. دی وايي چې هغه وخت کې په استاذ سيد قطب باندې ډېر تعذيبونه وو، کله چې به د تعذيب له کوټې نه راووت حالت به يې ډېر خراب و، الله ته به يې دعا کوله او بس، لږ به غږېده خو له خپل موقف نه به يې کلکه دفاع کوله.

سيد قطب د فی ظلال القرآن مشهور تفسير ليکل چې له زندانه مخکې يې شروع وکړي و په زندان کې هم د ده ليکلو ته ادامه ورکړه، دغه تفسير يې وليکه.

په زندان کې د سيد قطب صحي وضع ډېره خرابه شوه، حتی د هغه د مړينې امکانات ليدل کېدل ، د ده ملګرو غوښتل چې دی په هره لاره وي آزاد کړي همدا وه چې دا ځل په زندان کې له لس کاله تېرولو وروسته په ۱۹۲۴ز کې عبدالسلام عارف د عراق جمهور رئيس د مصر جمهور رئيس نه وغوښتل سيد قطب له زندانه آزاد کړي، همدا وه چې سيد له زندانه خوشې شو، عبدالسلام عارف له سيد قطب نه وغوښتل چې عراق ته ورسره ولاړ شي او د هغه مشاور شي، خو دا چې سيد سخت ناروغ و، هغه ته يې منفي ځواب ورکړ.

عبدالسلام عارف د سيد قطب في ظلال القرآن ډېر خوښ کړی و. په قاهره کې د عراق سفير شهيد سيد قطب ته ويلي و چې في ظلال القرآن په زندان کې د جمهور رييس عارف عبدالسلام مونس و.[36]

کله چې استاذ سيد قطب په ۱۹۲۴ز کې له زندانه خارج شو، د اخوان المسلمين ځينو غړو ورسره اړيکه ټينګه کړه. هغوی (عبدالفتاح اسماعيل، علي عشماوي، احمد عبدالمجيد، مجدي عبدالعزيز او صبري عرفه و ) دوی شهيد سيد قطب ته وويلې چې دوی له څو کلونو

[36] چرا اعدامم کردند، صفحه۱۱۷

سري پلان لري چې له حکومت څخه د ۱۹۵۴ز د ظلم چې له اخوان المسلمین سره یې کړی انتقام واخلي. خو کله چې دوی د شهید سید قطب نوې لیکنې ولوستې. بیا پدې قانع شول چې بدلون وروسته لدې راتلای شي چې ځوانان روزل شوي وي. داسې نه چې انقلاب رامنځته شي خو روزل شوي کسان موجود نه وي.

دا هغه څه دي چې شهید سید قطب یې الدجوي (قاضي) ته په محکمه کې وایي. سید قطب وایي چې ما دوی ته وویلې، انتقام کوچني هدف دی. دجوي پوښتنه کوي چې لوی هدف کوم دی. سید قطب یې په ځواب کې وایي: ((لوی هدف دا دی چې: داسې مسلمان نسل جوړ شي چې په خپل دین وپوهېږي، د تولنې له امورو خبر وي)) شهید سید قطب قاضي ته وویل چې ځوانان په دغو خبرو ورسره قانع شول.

په ۱۹۶۵ز کال کې یو وار بیا استاذ سید قطب زنداني شو، دا ځل زندان د هغه په اعدامولو پای ته ورسېده.

په محکمه کې قاضي فواد الدجوي د شهید سید قطب د اعدام فیصله داسې اعلان کړه: سید قطب، محمد یوسف هواش او عبدالفتاح اسماعیل په اعدام محکوم شول او د اخوان المسلمین پاتې غړي له لسو کالو قید نیولې تر ابدي قید، زندانیان شول، سید قطب په ډېر ډاډ وویل:

زه مخکې هم پوهېدم چې حاکم نه غواړي زه ژوندی پاتې شم، زه یوځل بیا دا وایم چې زه نه پښېمانه یم او نه لدې نظر نه اوښتی یم، مګر ډېر خوښ یم چې د دغه فکر لپاره، د خپل فکر په لاره کې وژل کېږم، البته تاریخ به زموږ او د حکومت ترمنځ قضاوت کوي چې کوم یو رښتینی و او کوم پر حق ولاړ و.

استاذ صلاح خالدي د شهید سید قطب خبره را اخلي. سید قطب د شهادت د حکم په اړه ویلي وو:((پوه شوم چې حکومت دا ځل زما سر غواړي. پدې پښېمانه نه یم او نه خپل وفات کېدو ته متاسف یم. مګر

زه د خپل دعوت په لاره کې مرګ ته خوشاله یم. دا به راتلونکي کې مورخین وایي چې څوک په حق وو، اخوان المسلمین او که حاکم؟)).

استاذ سید قطب د الله شکر وویست او ویې ویلې چې ما پینځلس کاله له الله جل جلاله نه شهادت غوښتنه کوله اوس دا دی دا لوی هدف لاسته راوړم. د استاذ سید قطب ځینو دوستانو ترینه وغوښتل چې له خپلو کارونو بښنه وغواړي، له اعدامه به خلاص شي، مګر سید قطب وویلې چې څه یې چې د الله جل جلاله لپاره ترسره کړي، له هغې بښنه نه غواړي.

په داسې حال کې چې شهید سید قطب په زندان کې د اعدام په انتظار شپې او ورځې تېرولې، خپل سعودي ادیب ملګري استاذ احمد عبدالغفور عطار ته یې دوه لیکونه واستول. استاذ عطار د لیک د استولو په اړه وایي چې شهید سید قطب د زندان په مسؤولینو هم اثر کړی و. د عبدالناصر ضابط ماته دا لیک راورساوه. د دوهم لیک په یوه څنډه کې شهید سید قطب داسې څه لیکلي چې په زړه عمیق تاثیر کوي: ((الله تعالی مې ومونده، داسې چې مخکې مې داسې نه و موندلی..د هغه منهج او لاره مې وپېژندله، داسې چې مخکې مې نه وه پېژندلې..د دې په رعایت کې مطمئن شوم، همدارنګه له مؤمنینو سره یې په وعدې لاهم یقیني شوم..داسې چې مخکې نه وم شوی)).

زینب الغزالي د سید قطب او حمیدې د وروستي ملاقات په اړه وایي: ((سید قطب ناڅاپه کوټې ته راننوت. ما ورته ښه راغلاست ووایه. دی کېناست او مور ته یې د اجلونو د رسېدو په هکله وویل، هغه ویل چې دا د خدای جل جلاله په لاس کې دي او هېڅوک پکې تغییر نه شي راوستی. سید مور ته د الله د غوښتنې په مقابل کې د رضا او تسلیمېدو غوښتنه وکړه. هغه د الله د غوښتنې په مقابل کې د رضا په هکله خبرې وکړې. حمیدې ته یې څه خبرې وکړې، بیا یې ماته څه خبرې وکړې. دې وخت کې له سید قطب سره راغلی کس غصه شو او ملاقات یې ختم کړ)).

بالاخر د اګست په نهه ویشتمه ۱۹۶۶ز کال کې شهید باندې د اعدام حکم تطبیق شو. په داسې حال کې چې موټر کې د اعدام پر لور روان و، خندل یې او د اقبال لاهوري هغه شعر چې یوه ورځ مخکې یې زده کړی و له ځان سره ویلې، اقبال ویلي وو:

نشان مرد مومن با تو ګویم-که چون مرګش رسد خندان بمیرد[37]

په داسې حال کې چې د سید قطب سترګې تړل شوې وې او په غاړه کې یې د اعدام پړی اچول شوی و، یو ضابط راغی، د هغه سترګې یې خلاصې کړې، له غاړې یې پړی ابسته کړ او ورته یې وویل: زما وروره... سیده... ما د رحیم ! جمهور رئیس نه درته د ژوند هدیه راوړې، یوائې لږ څه له خپل لاسلیک سره ولیکه، بیا د ځان او ورونو لپاره چې څه غوارې وغواړه. هغه مخکې تر دې چې ځواب ته غوږ کېدي په لاس کې نیولې کتابچه یې خلاصه کړه او ویې ویلې: وروره دا جمله ولیکه (ما غلطي وکړه او ښښنه غواړم...) سید خپلې سترګې پورته کړې، په خوله یې موسکا خپره وه، په ډېر ډاډ یې ضابط ته وویل: په دروغو ژوند نه اخلم. ضابط په غمجنه لهجه وویلې: مګر مرګ دی سیده. سید قطب ځواب ورکړ: د الله جل جلاله په لاره کې مرګ ته ښه راغلاست وایم.

سره لدې چې د شهید سید قطب د اعدام د حکم نه د انصراف لپاره د مصر حکومت او حاکم نه ډېرو، علماو، داعیانو او سیاسیوونو غوښتنه وکړه خو بیا هم هغه دا ظلم تر سره کړ.

د سعودي ملک فیصل هم له جمال عبدالناصر نه وغوښتل چې سید قطب اعدام نکړي، خو جمال عبدالناصر هغه ته پلمه وکړه چې ستا غوښتنه د هغه له اعدامه وروسته ما ته راورسېده، په داسې حال کې چې دا یوه د دروغو بهانه وه. همدارنګه وتلي لبناني داعي، په لبنان کې د الجماعة الاسلامية بنسټګر، مشر استاذ فتحي یکن او د لبنان

[37]ما چه میګوییم، صفحه۱۷

لويو علماو هم له مصري حکومت نه وغوښتل چې سيد قطب اعدام نه کړي.

په پاکستان کې هم د دغه حکم نه د تېرېدو لپاره لويې مظاهرې وشوې، د تونس لوی مفتي هم غوښتي و چې لدې حکم نه تېر شي. د اسلامي نړۍ ډېرو مشرانو او د مؤسساتو مشرانو هم دېته ورته غوښتنې وکړې، خو ظالم حاکم هېڅ يوه ته هم ونه کتل او دا ظالمانه حکم يې عملي کړ، انا لله و انا اليه راجعون

سيد قطب شهيد شو، خو د ده په شهادت دا فکر مړ نه شو، مګر لاهم ژوندی او ځوان شو، د ده شهادت په لسګونو نور د ده په څېر شخصيتونه جوړ کړل، نن ورځ په اسلامي نړۍ کې د اسلامپالنې د ګوندونو مشران، مؤسسين او رهبران د شهيد سيد قطب د فکر شاګردان دي. نن ورځ د ده خبره تاريخ ګواهي ورکوي چې شهيد سيد قطب په حق او حکومت په غلطه او باطله لار روان و.

**له شهادته وروسته:**

د پاکستان د جماعت اسلامي مؤسس مولانا مودودی رحمه الله سکرتر، خليل احمد حامدي وايي: د شهيد سيد قطب د اعدام په سبا باندې د امام مودودي کوټې ته ورغلم، په هغه وخت کې په پاکستاني اخبارونو کې د شهيد سيد قطب د اعدام خبر په لومړۍ پاڼه کې په غټ خط ليکل شوی و. د جماعت مشر مودودي خپله کيسه داسې وکړه: ((ناڅاپه مې د سخت اختناق احساس وکړ... خو په سبب يې پوه نه شوم...اوس چې مې کله په اخبارونو کې د سيد قطب د اعدام نېټه وليده، پوه شوم چې زما د اختناق وخت د سيد قطب د شهادت له وخت سره په يوه وخت کې و))[38].

[38]من اعلام الدعوه و الحرکه الاسلاميه، صفحه۳۲۰

خلیل احمد حامدي وایي: او په کال ۱۹۶۲ز کې په مکه مکرمه کې یوه هوټل کې وو چې یو مسلمان ځوان راغی او مولانا مودودي ته یې د سید قطب مشهور کتاب معالم في الطریق ورکړ، مولانا مودودي نوموړی کتاب په یوه شپه کې ولوست او سبا یې ماته وویلې: ( داسې کتاب یې لیکلی لکه ما چې لیکلی وي!!) بیا یې وویلې: ((دا د حیرانتیا خبره نه ده، ځکه چې زما او د هغه د افکارو مصدر یو دی چې هغه د الله کتاب او د هغه د رسول صلي الله علیه وسلم سنت دي))[39].

کله چې جمال عبدالناصر له اسرائیل سره په جګړه کې ماته وخوړه، مغربي رهبر علال الفاسي په خپلو لیکنو او ویناوو کې وویلې چې خدای جل جلاله هغه جګړه نه کامیابوي چې مشري یې د سید قطب قاتل کوي.

د شهید سید قطب په هکله په لسګونو کتابونه او په سلګونو حتی زرګونو مقالې لیکل شوي، ځینې او مشهور کتابونه یې دا دي:

- رائد الفكر الإسلامي المعاصر الشهيد سيّد قطب ، يوسف العظم.
- العملاق الفكر الاسلامي شهيد سيد قطب، عبدالله عزام( دا چې شهيد عبدالله عزام سيد قطب خپل فكري لارښود بولي، په دغه كتاب كې يې د ده په پېژندنه كې ښه معلومات راټول كړي دي).
- عبقري الإسلام سيّد قطب ، سيد بشير أحمد كشميري.
- سيد قطب الأديب الناقد ، عبد الله الخبّاص.
- سيّد قطب الشهيد الحي (د استاذ صلاح الخالدي د ماستري رساله ده چې د استاذ محمد قطب په مرسته یې لیکلې ده).
- نظريّة التصوير الفني عند سيّد قطب ، صلاح الخالدي.
- سيّد قطب من الميلاد إلى الاستشهاد(د سید قطب په اړه ډېر كتابونه ليكل شوي، خو دا كتاب چې استاذ صلاح الخالدي

[39] من أعلام الدعوة و الحركة الإسلامية، صفحه۳۲۱

ليکلي تر ټولو ښه کتاب دی او سيد قطب له ماشومتوبه تر شهادت پورې ښه معرفي کوي، چې موږ هم تربنه په دغه کتاب کې ډېره استفاده کړې).

- أمريكا من الداخل بمنظار سيّد قطب ، صلاح خالدي.
- سيّد قطب بين العاطفة والموضوعية ، سالم البهنساوي .
- سيّد قطب أو ثورة الفكر الإسلامي ، محمد علي قطب (ډېری خلک فکر کوي چې دی د سيد قطب ورور محمد قطب دی، خو داسې نه ده، محمد علي قطب لبناني ليکوال دی).
- مع سيّد قطب في فكره السياسي والديني ، مهدي فضل الله.
- سيد قطب من القرية إلى المشنقة ، عادل حموده (د سيد قطب په پېژندنه کې يې غوښتي تکفيري يې معرفي کړي).
- سيد قطب: الخطاب والأيديولجيا ، محمد حافظ دياب.
- سيّد قطب والأصوليّة الإسلاميّة ، شريف يونس.
- سيّد قطب حياته وأدبه ، عبد الباقي محمد حسن (له جامعو کتابونو څخه دی، حتی استاذ صلاح الخالدي هم دی معتبر ګڼلی او خپلو ليکنو کې يې ترې استفاده کړې).
- سيد قطب ومنهجه في التفسير ، إسماعيل الحاج أمين.
- التيار الإسلامي في أدب سيّد قطب ، حسيني علي رضوان.
- المنهج الفني في النقد عند سيذد قطب ، محمد أديب عبد الرحمن.
- سيد قطب ، أحمد البدوي.
- فلسطين في فكر سيّد قطب وأدبه ، أحمد الجدع.
- أعراس الشهادة، محمد المنتصر.

الله جل جلالدې د شهيد سيد قطب شهادت قبول کړي، لاره، فکر دې ژوندی لري او موږ دې د ده د فکر ريښتينې شاګردان کړي. آمين

تمت بفضل الله و الحمد لله

**ماخذونه**:

۱. شخصیات لها تاریخ، لیکوال: دوکتور محمد عماره؛ لمړی طبعه، دار السلام خپرندویه ټولنه؛
۲. جمال الدین الافغاني موقظ الشرق و فیلسوف الاسلام، لیکوال: دوکتور محمد عماره؛ دوهمه طبعه، دار الشروق خپرندویه ټولنه؛
۳. الصحوه الاسلامیه الثالثه.و فقه المرحله، لیکوال: دوکتور ولید نور؛
۴. محمد عبده (ویکیپیډیا )؛
۵. جمال الدین الافغانی(ویکیپیډیا )؛
۶. محمد رشید رضا(وکیپیډیا )؛
۷. تاریخ الصحوه الاسلامیه..و موقع حسن البنا (اخوان ډاټ نټ)؛
۸. مجله المنار (موسوعه الاخوان المسلمین).
۹. شهید سید قطب، لیکوال: زاهد جلالي
۱۰- اخوان آن لاین-د خوان المسلمین رسمي برېښنا پاڼه.
۱۱- حسن البنا (اخوان ویکي)
۱۲- حسن البنا (ویکي پېډیا )
۱۳- الوطن و الوطنیة في فکر الامام البنا- لیکوال: دوکتور جمال نصار؛
۱۴.د حسن البنا په اړه د اخوان آن لاین مستند فلم څخه؛
۱۵- منتدی صیدا للحوار- برېښنا پاڼه
۱۶- الوسائط المتعددة- اخوان آن لاین
۱۷- اغتیال حسن البنا الجریمة السیاسیة- د الجزیرې د ټلویزیوي شبکې له لورې د امام البنا په اړه جوړ شوی مستند فلم
۱۸- اخوان ډاټ نټ
۱۹- الشهیدان حسن البنا و سید قطب- لیکوال: صلاح شادی
۲۰- مذکرات الدعوة و الداعیة-لیکوال: شهید امام حسن البنا
۲۱- الامام البنا- انټرنټي پاڼه ده، چې د امام حسن البنا د شهادت د ورځې د یادولو لپاره جوړه شوې.
۲۲- شبکه الشفاء الاسلامیة-الشفاء ډاټ کام

۲۳- استشهاد الامام حسن البنا-مقاله
۲۴- تراث الاخوان- بربښنا پاڼه
۲۵- حسن البنا ډاټ او آرجي
۲۶. اخوان اون لاین ډاټ کام؛
۲۷. سید قطب (موسوعة الاخوان المسلمون)؛
۲۸. معالم المشروع الحضاري في فكر الامام الشهيد حسن البنا، ليكوال: دوكتور محمد عماره؛

۲۹. قهرمان اندیشه اسلامي شهید سید قطب-لیکوال: عبدالله عزام؛

۳۰. رحماء ډاټ او ار جي؛

۳۱. سید قطب (ویکیپېډیا)؛

۳۲. زندګي نامه سید قطب-لیکوال: احمد یاسین؛

۳۳. ما چه میګوییم، لیکوال: سید قطب، ژباړن: خسرو شاهي؛

۳۴. مساء العاشر ټلوېزيوني پروګرام څخه چې مرشد العام محمد بديع مېلمه و؛

۳۵. من اعلام الدعوة و الحركة الاسلامية(لومړی جلد)، لیکوال: عبدالله العقیل؛

۳۶. د اخوان المسلمون تحریک، لیکوال: حسن البنا، ژباړن: ق. ح. صافی؛

۳۷. شیخ محمد الغزالي، لیکوال: زاهد جلالي؛

۳۸. سید قطب الشهید الحي. لیکوال: صلاح خالدي؛

۳۹. سید قطب من الميلاد الى الاستشهاد، لیکوال: صلاح خالدي؛

## د مؤلف پېژندنه :



زاهد جلالی د ۱۹۸۹ز کال د دولسمې میاشتې په دوویشتمه نېټه په مکه مکرمه کې زېږېدلی. پلار یې دوکتور محمد جلال د مکې د ام القراء له پوهنتون څخه په اصول الفقه کې د دوکتورا د رسالې لیکلو پر مهال لدې فاني نړۍ سترګې پټې کړې دي. په ۱۹۹۳ز کال کې د پلار له وفاته وروسته له خپلې کورنۍ سره یوځای پاکستان ته راستون شوی او د جلوزو په پنډغالي کې مېشت شوی دی، چې تر دې مهاله یې کورنۍ په پېښور کې اوسي.

د افغانستان د پروان ولایت د غوربند د درې د شینوارو د ولوسوالۍ اوسېدونکی دی.

جلالي په ۱۹۹۵ز کال کې لومړی په وړکتون او بیا د النور په لېسه کې یې تر یوولسم ټولګي پورې زده کړې وکړې.

په ۲۰۰۸ز کال کې د جلوزو پنډغالي د ورانېدو له کبله یې کورنۍ پېښور ته کډه شوه او دولسم ټولګی یې د ایمل خان بابا په لېسه کې پای ته ورساوه.

د رسمي زده کړو ترڅنګ یې عربي او انګلیسي ژبې هم د کورسونو له لارې لوستې. د دولسم ټولګي له فراغت نه وروسته په ۲۰۰۹ز کال کې د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې د شریعې او حقوقو پوهنځي ته بریالی شو او تر دې دمه په همدې پوهنتون کې خپلې زده کړې پرمخ بیایي.

د مکتب په دوره کې جلالي د مکتب اوونیزه جریده د خپل ټولګي په استازیتوب پرمخ بېوله او په ۲۰۰۷ او اته زېږدیز کال کې د النور عالي لېسې د فرهنګي کمېټې مسؤولیت ورپه غاړه و.

تر دې دمه یې یو کتاب د [د اسلامي فکر اتلان(لومړی ټوک)] په نامه چاپ او خپور شوی دی. د همدې سلسلې دوهم ټوک به هم ژر چاپ ته وسپارل شي. د (زما جګړه) په نامه ژباړه یې چې د هټلر خاطرې دي ناچاپه ده او دا دی نوی کتاب (حسن البنا او سید قطب د معاصرې اسلامي ویښتابه سرلاري) په نامه یې ستاسو په لاسونو کې دی.

اوسمهال د ویښتابه برېښناپاڼې چلوونکی دی او ترڅنګ یې ګڼو برېښنا پاڼو، مجلو او ورځپاڼو کې لیکنې خپرې شوې دي.